لومړی کال - ۱ گڼه - ۱۴۴۳ - د شوال میاشت

Deputy PM for Economic Affairs

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

# د اقتصادي معاونیت

# میاشتنۍ



- د اقتصادي کمېسیون مهمې پرېکړې
- ډيپلوماتيکې غونډې
- فصل نوینِ خودکفایی؛ جلب سرمایه‌گذاری خارجی درِ منابع طبیعی افغانستان

**د اقتصادي معاونیت میاشتنی**

**د امتیاز خاوند:** د رياست الوزراء اقتصادي معاونیت

**کتنپلاوی:** احمد یاسر، مولوي سيد علي، حاجي ابراهیم، مولوي عبدالله عزام، مولوي ذبیح الله او احمدشاه راشد

**مسوول مدیر:** احمد یاسر

**مرستیال:** احمدشاه راشد

**لیکوالان:** سیف‌الدین احمدي، امان الله حنیفي، احسان الله ذهین، عزت الله بدلون او خالد حکیمي

**ډیزاینر:** عبدالمجید

**فوټوژورنالېست:** محمد عشرت رحمتي

**د چاپ او توزیع مسوول:** سید مصور سادات

**پته:** قصر مرمرین، کابل - افغانستان

**ټیلیفون:** 0202107500

**برېښنالیک:**media@fdpm.gov.af

**ویب‌پاڼه:** fdpm.gov.af

د مضمونونو او مقالو مسوولیت د لیکوالانو پر غاړه دی. د مجلې له مقالو او انځورونو څخه ګټه اخیستنه د سرچینې په ذکر کولو سره جواز لري.

مسوولیت مضامین مقالات به نویسندگان آن بر می‌گردد. استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر منبع مجاز است.

# لړلیک


1 سرلیکنه

2 د اقتصادي کمېسیون مهمې پرېکړې

6 ډیپلوماتیکې غونډې

12 فصل نوینِ خودکفایی؛ جلب سرمایه‌گذاری خارجی در منابع طبیعی افغانستان

15 د اقتصادي کمېسیون کارونو ته ځغلنده کتنه

17 په افغانستان کې د ځانګړو اقتصادي زونونو اهمیت ته کتنه

20 اهمیت اقتصادی استخراج نفتِ قشقری در شمال کشور

22 د غوریان د اوسپنې کان؛ تر خاورو لاندې د هېواد یوه بله خزانه

24 قوش تیپه کانال؛ د افغانانو یوه هیله چې پوره کېږي



# سرلیکنه

د ریاست الـوزراء د اقتصادي معاونیت میاشـتنۍ مجله د لومړي ځل لپاره چاپیږي. دا میاشتنۍ مجله به ددغه معاونیت د غونډو، پرېکړو، دیپلوماتیکو لیدنو کتنو، اقتصادي تحلیلونو، سترو اقتصادي پروژو او لاسته راوړنو په اړه معلومات وړاندې کوي.
د اقتصـادي چـارو کمېسـیون د افغانستان اسلامي امارت د رهبرۍ مقام د 21 مې او 22 مې ګڼې فرمانونو پر بنسټ د 1400 لمریز کال د مرغومي په 29 مه نېټه رامنځته شو. د دغه کمېسیون له جوړېدو څخه د افغانستان اسلامي امارت د رهبرۍ موخه د هېواد د اقتصادي چارو سم مدیریت، له خصوصي سکټور سره د ستونزو د حل په برخه کې همکاري، کورنۍ او بهرنۍ پانګونې ته د جلب او جذب زمینه برابرول، په تدارکاتي پروسو کې د اسانتیاوو رامنځته کول او د دغه کمېسیون تر چتر لاندې د وزارتونو او ادارو د چارو او کړنو تنظیم یې اساسي موخې ګڼل کېږي.
د سیاسي ثبات تر رامنځته کېدو وروسته اقتصادي وده او پرمختګ مهمه او حیاتي موضوع ګڼل کېږي، چې د یوه هېواد په بیارغونه او ښېرازۍ کې رول لري؛ ترڅو خلک له فقر، بېکارۍ او تنګلاسۍ څخه وژغورل شي. په همدې توګه اقتصاد محوره سیاست د افغانستان اسلامي امارت د پالیسۍ په سر کې راځي او د اقتصادي چارو کمېسیون رامنځته کېدل، چې مشري یې د ریاست الوزراء د اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند پر غاړه ده، پر دې دلالت کوي، چې د افغانستان اقتصادي پرمختګ د ا.ا.ا له لومړیتوبونو څخه دی.
افغانستان د پانګونې او تولید ډېر فرصتونه لري. د پرېمانه طبیعي سرچینو (**کانونو، نفتي زېرمو، اوبو او پرېمانه شاړو ځمکو**) شتون، انرژي، زراعت او د صنعت سکټورونه یې د مثال په توګه یادولی شو. همدغو فرصتونو ته په کتو سره د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت په ټول توان هڅه کوي، چې د خپل ولس اقتصادي ستونزو ته د پای ټکی کېږدي او د هېواد اقتصاد د بهرنیو مرستو پر ځای یوازې پر خپلو پرېمانه داخلي سرچینو متکي کړي.
د ریاست‌الوزراء د اقتصادي معاونیت میاشتنۍ مجله د همدې موخې لپاره خپرېږي، چې څو وکړی شو، ددغه معاونیت فعالیتونه او اقدامات تر ملت پورې په درست شکل ورسوؤ. په میاشتنۍ مجله کې به د اقتصادي چارو کمېسیون، ډیپلوماتیکو ناستو او د ریاست‌الوزراء د اقتصادي مرستیال له لوري د تر سره شوو مهمو پرېکړو، تصمیمونو او پرمختګونو په اړه راپورونه، د هېواد د اقتصادي وضعیت د ښه والي په پار اقتصادي تحلیلي لیکنې او په ټوله کې به د ریاست‌الوزراء د اقتصادي معاونیت اړوندو کاري پرمختګونه او راپورونه خپرېږي.



# د اقتصادي کمېسیون مهمې پرېکړې

## اقتصادي کمېسیون؛ د مالیې وزارت په وړاندیز به د یو کال لپاره د اصنافو مالیه له (1.5) ځخه (0.5) سلنې ته راکمه شي

د ریاست‌الوزراء د اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ اقتصادي کمېسیون د سوداګرۍ وزارت له لوري په هېواد کې د اقتصادي زونونو د جوړولو او ترانسپورت او هوايي چلند وزارت له لوري په ټولو ولایتونو کې د ترانسپورټي اډو او ترمینلونو د مدیریت او تنظیم طرحو د ارزونې لپاره ځانګړو کمېټو ته دنده وسپارله، څو یې په اړه د یاد کمېسیون راتلونکي مجلس ته راپور وړاندې کړي.
یاد اقتصادي زونونه به د هېواد په پنځو لویو ولایتونو کابل، هرات، ننګرهار، بلخ او کندهار کې جوړېږي، چې له مخې به یې په کلني ډول د افغانستان په صادراتو کې (30) سلنه زیاتوالی راشي او نږدې دوه میلیونو کسانو ته به د کار زمینه برابره کړي.
همدارنګه د یاد کمېسیون د پرېکړې پر اساس، د احصائیې ملي ادارې اړوند د «60» جنراتورونو د اخیستلو موضوع د «1401» مالي کال د بودیجې تر تصویب پورې وځنډېده. دغه جنراتورونه د احصائیې ملي ادارې لخوا په ولایتونو کې د خپلو مرکزي ادارو د اړتیا په موخه اخیستل کېږي.

د ریاست‌الوزراء د اقتصادي مرستیال په مشرۍ اقتصادي کمېسیون د مالیې وزارت هغه وړاندیز چې د هېوادوالو اقتصادي وضعیت ته په کتو او د اصنافو د ملاتړ په موخه د یو کال لپاره د اصنافو مالیه له (1.5) ځخه (0.5) سلنې ته راکمېږي؛ د تطبیق وړ وباله او وپتېیل شوه، چې له هغه وروسته به د پایلو پر اساس تصمیم نیول کېږي.
د افغانستان اسلامي امارت د مالیې سرپرست وزیر الحاج هدایت‌الله بدري وایي: پر اصنافو د مالیې د زیاتوالي له امله ډېرۍ اصناف دوی ته په وخت خپله مالیه نشي ورکولی او په دې ډول د مالیې وزارت په میلیونونو افغانۍ عواید یا په ټاکلي وخت نه راټولېږي او یا یې هم یوه برخه ضایع کېږي. د مالیې وزیر په خبره، پر اصنافو د مالیې په کمولو سره به هم د اصنافو په شمېر کې زیاتوالی راشي او هم به د دوی عواید په ټاکلي وخت سره راټول او زیات شي. له دې مخکې د مالیې د زیاتوالي له امله اصنافو شکایتونه درلودل چې دوی په یاده کچه مالیه نشي ورکولی.



## اقتصادي کمېسیون؛

# د کابل ترافیکو ریاست عواید دې بېرته کورنیو چارو وزارت ته جمع شي

د ریاست‌الوزراء د اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ اقتصادي کمېسیون په خپله نوبتي غونډه کې پرېکړه وکړه، چې «د مکروریانو د مراقبت او ساتنې دولتي شرکت» دې د اونکس شرکت اړوند د عزیزي پلازا ودانۍ او په مکروریانو کې د جلا جوړو شوو $B_1$ او $B_2$ بلاکونو د کانالیزاسیون لګښت چې فې مترمربع لس افغانۍ دی، له دې وروسته شپږ افغانۍ واخلي. د عزیزي پلازا ودانۍ او د مکروریانو د یادو بلاکونو اوسېدونکو شکایت درلود، چې دوی په لس افغانۍ د فې مترمربع کانالیزاسیون خدماتو د لګښت ورکولو توان نه لري.

د مکروریانو د مراقبت او ساتنې دولتي شرکت پر مکروریانو سربېره، په کابل ښار کې نورو ښارګوټو او لوړ پوړو سوداګریزو او د اوسېدو ودانیو ته د کانالیزاسیون، اوبو رسولو او شنې ساحې خدمات وړاندې کوي.

همدا راز د یاد کمېسیون لخوا د زابل ولایت په شملزو ولسوالۍ کې له پاکستان سره پر ډیورنډ فرضي کرښه د ګډ ګمرک جوړولو په اړه تفصیلي خبرې اترې ترسره او یاده موضوع د لا ښه وضاحت په موخه د ښارجوړونې وزارت ته وسپارل شوه، څو یې په اړه هر اړخیزه څېړنه ترسره او راپور یې اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي. د یاد ګمرک د جوړولو غوښتنه پاکستاني لوري په وار وار کړې، چې اوسمهال یې د جوړولو او نقشې په اړه د اسلامي امارت د ښارجوړونې وزارت ته دنده سپارل شوې. د دغه ګمرک له لارې به د پکتیکا، غزني او زابل ولایتونو اوسېدونکي خپل سوداګریز توکي او کرنیز محصولات پاکستان ته صادر او له هغه لورې به په رسمي ډول واردات هم ترسره کولی شي.

د ریاست‌الوزراء د اقتصادي مرستیال په مشرۍ اقتصادي کمېسیون همدارنګه پرېکړه وکړه چې د کابل ترافیکو ریاست عواید چې مخکې د کابل ښاروالۍ بودیجې ته جمع کېدل، بېرته د کورنیو چارو وزارت عوایدو ته جمع او که کابل ښاروالي د بودیجې له کسر سره مخ شي، د یاد کمېسیون د هدایت پر اساس به مالیه وزارت ورته بودیجه ځانګړې کوي.

د کابل ترافیکو ریاست چې اصلاً د کورنیو چارو وزارت په تشکیل کې ځای لري، د کابل د تېرې اداري له لوري یې عواید د فساد په موخه کابل ښاروالۍ ته جمع کېدل او کابل ښاروالۍ یې په بدل کې په کابل ښار کې یوځه ښاري خدمات وړاندې کول.



# اقتصادي کمېسيون د اوسپنې ويلې کولو لپاره د يو منظم ميکانېزم د جوړولو پرېکړه وکړه

د رياست‌الوزراء د اقتصادي مرستيال ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ اقتصادي کمېسيون په افغانستان کې د اوسپنې د ويلې کولو په اړه د يو منظم ميکانېزم د رامنځته کولو په موخه ځانګړې کمېسيون ته دنده وسپارله، څو په دغه برخه کې کوټلي ګامونه واخلي. دا هڅه په داسې وخت کې کېږي، چې د اسلامي امارت واک ته تر رسېدو را وروسته بهرنيو هېوادونو ته د هر ډول اوسپنې لېږد او قاچاق بند شوی دی او د تېرو څه باندې پنځو مياشتو پر مهال نږدې «۳۰۰» زره ټنه اوسپنه په بېلابېلو ولايتونو کې راټوله شوې ده. د يادې اوسپنې ډېری برخه په کندهار، جلال اباد او بلخ ولايتونو کې ده، چې له بېلابېلو لارو به پاکستان ته وړل کېده او له ويلې کولو او پروسس وروسته به افغانستان ته په لوړ قيمت واردېده، چې په افغانستان کې يې د صنعت او معدن خونې غبرګونونه راپارولي دي. د افغانستان د صنعت او معدن خونې رئيس شېرباز کمين‌زاده وايي، دوی په افغانستان کې د اوسپنې ويلې کولو په برخه کې په ميليونونو ډالره پانګونه کړې او فابريکې يې پر معيار او سټنډرډ برابرې دي. کمين‌زاده زياتوي، کلونه کېږي چې دوی په افغانستان کې فعاليت پيل کړی، خو ډېری وخت د خامو موادو له کمښت سره مخ وي. نوموړی وايي، که دوی ته ياده راټوله شوې خامه اوسپنه په مناسب قيمت سره ورکړل شي، هم به په هېواد کې دننه يوشمېر هېوادوالو ته د کار زمينه برابره شي او هم به په ښه او مناسب کيفيت او قيمت خپلو هېوادوالو ته خدمات وړاندې کړي.

د رياست‌الوزراء د اقتصادي مرستيال په مشرۍ اقتصادي کمېسيون پرېکړه وکړه، چې د يادې اوسپنې د رانيولو او ويلې کولو لپاره بايد يو منظم ميکانېزم جوړ شي، څو يې بهرنيو هېوادونو ته د لېږد او قاچاق مخه په مطلق ډول ونيول شي. د يادې اوسپنې د رانيولو پر سر د اوسپنې ويلې کولو فابريکو او د اوسپنې پلورونکو تر منځ د قيمت پر سر اختلاف و؛ خو ملا عبدالغني برادر اخوند د ماليې وزارت په مشرۍ؛ د صنعت او سوداګرۍ وزارت، د صنعت او معدن خونې او د اوسپنې پلورونکو استازو ته دنده وسپارله، څو په ګډه يو مناسب قيمت ورته وټاکي.



# اقتصادي کمېسیون؛ «د افغانستان بانک» له لوري د صرافانو لپاره جوړه شوې طرحه د تطبیق وړ ده

د ریاست‌الوزراء د اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ اقتصادي کمېسیون د «د افغانستان بانک» له لوري د صرافانو لپاره جوړه شوې طرحه د تطبیق وړ وبلله. دغه طرحه د صرافانو د تنظیم، د کاري جواز درلودو او له افغانستان څخه بهر ته د پیسو د قاچاق د مخنیوي په موخه جوړه شوې ده. د افغانستان بانک مرستیال ښاغلي حاجي احمد وویل، هر صراف باید د کار لپاره جواز ولري، د افغانستان بانک ته (5) میلیونه افغانۍ ضمانت ورکړي او همدارنګه د پولي خدماتو شرکتونه باید له بانک سره (50) میلیونه افغانۍ نقدي پانګه ولري. نوموړې زیاتوي چې په دې سره به د هغو سلګونو غیر قانوني صرافانو د فعالیت مخه ونیول شي چې له افغانستان څخه بهر ته په قاچاقي ډول پیسې لېږدوي.

اقتصادي کمېسیون همدارنګه افغانستان ته د بې کیفیته نفتي موادو د راتلو او له امله یې د انسان روغتیا ته د پېښېدونکو زیانونو او ترانسپورتي وسایطو د متضرر کېدو د مخنیوي په موخه؛ د «نفتو او ګازو دولتي شرکت» له لوري په انحصاري ډول له نورو هېوادونو د خامو نفتي موادو د راوړلو طرحه هم د تطبیق وړ وبلله، چې تر راوړلو وروسته به خام مواد د تصفیې او پروسس لپاره خصوصي سکتور ته ورکوي. د نفتو او ګازو دولتي شرکت وایي، له دې مخکې ډېرى نفتي مواد له تصفیې او پروسس پرته هېواد ته راتلل، چې د هېوادوالو پر روغتیا سربېره یې چاپېریال او ترانسپورتي وسایطو ته هم ضرر درلود.

# د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د چین د بهرنیو چارو له وزیر سره په چهارچنار ماڼۍ کې وکتل

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند د چین د بهرنیو چارو له وزیر ښاغلي «وانګ‌یي» او مل هیئت سره په چهارچنار ماڼۍ کې وکتل.
د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، چین او افغانستان خپل منځ کې ښې تاریخي اړیکې لري او اسلامي امارت د دغو اړیکو لا پراختیا غواړي. هغه د خپلو خبرو پر مهال زیاته کړه، د افغانستان اسلامي امارت د چین ولسي جمهوریت ته د ټولو هغو اندېښنو د له منځه وړلو په اړه اطمینان ورکوي، چې دوی یې د افغانستان له خاورې څخه د پېښېدو په اړه لري. ښاغلي ملا عبدالغني برادر اخوند وویل چې اسلامي امارت په ټول هېواد کې بشپړ امنیت قایم کړی، هېچا ته د سر او مال خطر نشته او نه به د افغانستان له خاورې څخه چاته اجازه ورکړي، چې د نورو هېوادونو پر ضد اقدامات وکړي.
د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د خپلو خبرو پر مهال زیاته کړه، د چین ولسي جمهوریت په نړیوال اقتصادي فورم کې اوسمهال تر ټولو ښه ځای لري او اسلامي امارت د چین له ولسي جمهوریت څخه غواړي چې افغانستان کې پانګونه وکړي. د ملا عبدالغني برادر اخوند په خبره، افغانستان پراخې طبیعي زېرمې لري او اوسمهال په افغانستان کې یو خوندي چاپېریال رامنځته شوی دی. نوموړي همدا راز د چین د بهرنیو چارو له وزیر وغوښتل چې افغانستان ته د «یو کمربند او یوه لار» پروژه کې غړیتوب ورکړي.
د افغانستان اسلامي امارت د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال له چینایي لوري سره د خپلو خبرو پر مهال وویل، چې د چین ولسي جمهوریت دې د کرونا وبا له وجې پر افغان سوداګرو لګول شوي بندیزونه لرې او د افغان محصولاتو د صادراتو لپاره دې لا ښه زمینه برابره کړي. هغه له چینایي لوري همدا راز غوښتنه وکړه څو افغان محصلینو ته د مسلکي زده کړو په موخه سکالرشیپونه برابر او په چین کې دې پر شته محصلینو د کرونا وبا له امله لګول شوي بندیزونه ختم او درسونو ته دې په حضوري بڼه د تلو اجازه ورکړل شي.

د چین د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي وانګ‌یي د خپلو خبرو پر مهال وویل، د چین ولسي جمهوریت د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه نه کوي او د افغانستان استقلالیت ته په بشپړ احترام قایل دی. د نوموړي په خبره، د افغانستان د نوي سرپرست حکومت لخوا په کم وخت کې په ټولو برخو کې مثبت ګامونه اخیستل شوي او دوی یې د دوام هیله کوي. وانګ‌یي وویل، دوی له افغانستان سره په بېلابېلو برخو کې مرستې کړې دي او تازه یې «300» میلیونه «ین» نورې بشري مرستې هم چمتو کړې دي.
د چین د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي وانګ‌یي وویل، چین له افغانستان سره د خپلو اړیکو پراختیا غواړي او په هر حالت کې د نوي حکومت ملاتړ کوي. د هغه په خبره، چین په همدې موخه په نږدې ورځو کې د سیمې هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو ناسته رابولي چې د افغانستان په وضعیت به پکې خبرې وشي. هغه همدا راز وویل چې په دغه ناسته کې یې د افغانستان د بهرنیو چارو سرپرست وزیر امیرخان متقي ته هم بلنه ورکړې ده.
ښاغلي وانګ‌یي په افغانستان کې له سرتاسري امنیت ستاینه وکړه او زیاته یې کړه، که د افغانستان نوی حکومت د داعش او ETIM پر وړاندې هم جدي مبارزه وکړي، وضعیت به ورسره لا ښه او د سیمې هېوادونو باور به په نوي حکومت لا زیات شي. د وانګ‌یي په خبره، داعش او ETIM د چین او افغانستان ګډ دښمن دی او پر وړاندې یې باید په ګډه مبارزه وشي.
د چین د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي وانګ‌یي وویل، چین چمتو دی چې له افغانستان سره سوداګریزې اړیکې لا فعاله او دلته د کانونو د استخراج، د اقتصادي زونونو د جوړولو او انرژۍ د تولید په برخه کې پانګونه وکړي. د نوموړي په خبره، چینایي شرکتونه د مس عینک په اړه د افغانستان د کانونو او پترولیم وزارت له سره تر مفصلو بحثونو وروسته هوکړې ته رسېدلي او ژر به د دغه کان د استخراج چارې پیل کړي.



# د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د تاپي ګاز نللیکې کمپنۍ له اجرائیوي رئیس سره وکتل

د تاپي پروژې عملي چارې به په نږدې راتلونکې کې له هرات ولایت پیل شي.

د تاپي ګاز نللیکې کمپنۍ اجرائیوي رئیس «محمد مراد امانوف» د ریاست‌الوزراء له اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند سره لیدنه کې وویل، ترکمنستان چمتو دی چې د دغه پروژې پیل په «600» میلیونو ډالرو پانګونې سره له هرات ولایت شروع او د کارونو د چټکتیا په موخه یې د دواړو هېوادونو تر منځ ژر باصلاحیته د هرات ولایت له (ګذرې ستېشن تر صنعتي پارک) پورې د «20» میلیونو ډالرو په پانګونې سره د تاپي پروژې یو پایپ‌لاین غځوي، چې له مخې به یې د دغه صنعتي پارک تولیدات زیات او ډېرو خلکو ته به د کار زمینه برابره شي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د تاپي پروژې د پیل لپاره په افغانستان کې اوسنی رامنځته شوی وضعیت یو ښه فرصت وباله او زیاته یې کړه، چې تخنیکي ټیمونو تر منځ د مفصلو خبرو اترو غوښتنه وکړه، چې وروسته به یې په اړه تصمیم ونیول شي.

د تاپي ګاز نللیکې کمپنۍ اجرائیوي رئیس د خپلو خبرو پر مهال وویل، د افغانستان په خاوره کې د مالیاتو معاف کول د ګازو پر قېمت مستقیم تاثیر لري، چې اوسمهال پر یو متر مکعب ګاز له «900» نیولي تر «1200» ډالره لګښت راځي او د معافیت په صورت کې به یې لوړه بیه



ټیمونه رامنځته کړي. نوموړي زیاته کړه: اسلامي پراختیایي بانک، د اسیا پرمختیایي بانک او همدارنګه روسي، چینایي او ځینې عربي بانکونه هم په تاپي پروژه کې پانګونې ته چمتو دي. نوموړي د خپلو خبرو پر مهال وویل، دوی د افغانستان له اسلامي امارت غواړي چې د تاپي پروژې د کارونو د پیل لپاره دې د افغانستان په خاوره کې د تېربدونکي پایپ‌لاین لپاره د ځمکې د استملاک مسئله حل او مالیات پر عوایدو دې معاف کړي. د ښاغلي مراد امانوف په خبره، دغه مالیات چې شاوخوا «20» میلیونه ډالر کېږي، دوی یې یوازې د افغانستان په خاوره کې معاف کول غواړي او په بدل کې به یې ترکمنستان اسلامي امارت د تاپي پروژې په اړه «9» رسمي شوي تړونونه له خپلې ارزونې وروسته د تطبیق وړ بولي او د یادې پروژې د پیل لپاره پوره چمتووالی لري چې په دغه برخه کې هر ډول همکاری ته تیار دی.

ملا عبدالغني برادر اخوند د تاپي ګاز نللیکې کمپنۍ اجرائیوی رئیس ته ډاډ ورکړ، چې د یادې پروژې د کارونو د لا ښه همغږي کولو په موخه به ژر د اړوندو وزارتونو له لوري یو باصلاحیته پلاوی وټاکي او د ځمکې د استملاک مسئله به هم ژر نهایي کړي. ښاغلي ملا عبدالغني برادر اخوند د افغانستان په خاوره کې د مالیاتو د معافیت په اړه د دواړو هېوادونو د «500» ډالر وي. ښاغلي مراد امانوف زیاته کړه، ترکمنستان چمتو دی چې د ګازو د توزیع په برخه کې خپل تخنیکي ټیمونه افغانستان ته را واستوي او دلته له افغان لوري سره یوځای کار وکړي. هغه همدا راز وویل چې دوی د کارونو د لا ښه پر مخ بیولو او په ځانګړې توګه د پیسو د انتقال په موخه غواړي، چې د تاپي پروژې اړوند له ټولو افغان ارګانونو سره د یادې پروژې په اوږدو کې ګډه موقتي اداره جوړه کړي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د تاپي پروژې د ژر پیل په اړه د ترکمنستان له هڅو مننه وکړه او په دغه برخه کې یې پر جدي ګام اخیستو ټینګار وکړ.

# د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د افغانستان لپاره د روسیې د ولسمشر له ځانګړي استازي سره وکتل

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند د افغانستان لپاره د روسیې د ولسمشر له ځانګړي استازي «ضمیر کابلوف» او مل هیئت سره په

سره به د سیمې هیوادونو امنیت لا ټینګ او اقتصادي پیاوړتیا به رامنځته شي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال له روسي هیئت سره په خپلو خبرو کې وویل،

تر نورو ډېره اړتیا لري. ښاغلي کابلوف زیاته کړه، له تخنیکي بحثونو وروسته به ژر د هغو پروژو عملي کار پیل کړي، چې د افغانستان په اقتصادي بیارغونه کې مهم



چهارچنار ماڼۍ کې وکتل. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په بشري او امنیتي برخو کې د روسیې له مرستو منته وکړه او په نړیوالو فورمونو او د ملګرو ملتونو په وروستۍ ناسته کې یې د افغانستان اسلامي امارت په اړه د روسي استازي له څرګندونو ستاینه وکړه. ښاغلي ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، دا چې روسیه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا غړیتوب لري او د اسلامي امارت حکومت تر اوسه د کوم هیواد لخوا په رسمیت نه دی پېژندل شوی، نو موږ له روسیې د یو ګاونډي هیواد په توګه غواړو چې د اسلامي امارت په پېژندلو کې لومړی ګام پورته کړي. د ملا عبدالغني برادر اخوند په خبره، په دې

د افغانستان او روسیې تر منځ فرصتونه په زیاتېدو دي او اسلامي امارت د یو مسؤل حکومت په توګه له دغو فرصتونو د ښې استفادې لپاره هڅې کوي. ښاغلي ملا عبدالغني برادر اخوند همدا راز د ترکمنستان-افغانستان-پاکستان رېل پټلۍ جوړولو کې د روسیې له لېوالتیا هم هرکلی وکړ او په دغه لویه پروژه کې یې د روسیې همکاري مهمه وبلله.

د روسي هیئت مشر ضمیر کابلوف د ریاست‌الوزراء له اقتصادي مرستیال سره د خبرو پر مهال وویل، افغانستان ته یې له دې سفر یوازینۍ موخه د دواړو هېوادونو تر منځ د اړیکو پیاوړي کول او په هغو برخو کې ګډ کار کول دي، چې افغانستان ورته

رول لوبولی شي. نوموړي وویل، روسیه چمتو ده چې د نفتي موادو او مایع ګاز په برخه کې له افغانستان سره مرسته وکړي.

د ښاغلي کابلوف په خبره، دوی د نفتي موادو او مایع ګاز پراخې زېرمې لري، چې کولی شي د افغانستان د اړتیا وړ دا مواد ورته په ارزانه بیه او ښه کیفیت ورکړي.

د افغانستان اسلامي امارت د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند د نفتي موادو او مایع ګاز په برخه کې د روسیې له همکارۍ منته وکړه او ټینګار یې وکړ چې د دواړو هېوادونو تر منځ باید سوداګریزې اړیکې زیاتې او سوداګرو ته دې اسانتیاوې برابرې شي.

# د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د ازبیکستان د لومړي وزیر له اقتصادي مرستیال سره وکتل

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند د ازبیکستان د لومړي وزیر له اقتصادي مرستیال «سردار اوکتامو وېچ عمر زاکوف» سره په چهارچنار ماڼۍ کې وکتل او په افغانستان کې يې د لويو اقتصادي پروژو پر پيل، د رېل پټلۍ پر جوړولو، د برښنا پر تولید، سوداګرۍ او ترانزيټ يې ورسره خبرې وکړې. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د خپلو خبرو پر مهال وویل، په افغانستان کې اوسمهال د پانګونې لپاره شرایط برابر شوي او ازبیکستان کولی شي د قرمز- بلخ-پېښور- کابل رېل پټلۍ او د پلخمري د «500» کیلوواټه برښنا توربین د ترمیم او دې ته ورته نورو مهمو او اساسي برخو کې پانګونه وکړي. د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خبره، که د سیمې هیوادونه غواړي چې افغانستان پر ځان بسیا او یو پیاوړی اقتصاد ولري، نو د بشري مرستو پر ځای دې په افغانستان کې په اساسي برخو کې پانګونه وکړي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیاتوي چې له دې سره به هم خلکو ته د کار زمینه برابره شي او هم به افغانستان د سیمې او نړۍ د هیوادونو لپاره د اتصال پر کړۍ بدل شي. د ازبیکستان د لومړي وزیر اقتصادي مرستیال شاغلي عمر زاکوف وویل، ازبیکستان او افغانستان ډېر تاریخي او کلتوري مشترکات لري او دوی د دغو اړیکو پراختیا او د دواړو هیوادونو تر منځ ښه اقتصادي تعامل غواړي. نوموړی زیاتوي، دوی چمتو دي چې راتلونکې مارچ میاشت کې د قرمز-بلخ- پېښور- کابل رېل پټلۍ لومړنۍ سروې پیل او په نږدې وخت کې د پلخمري د «500» کیلوواټه برښنا توربین د تولید چارې هم پیل کړي.

عمر زاکوف د خپلو خبرو پر مهال وویل، دوی په افغانستان کې د اسلامي امارت واک ته تر رسېدو وروسته پر ځینو مهمو پروژو سربېره د بلخ د هوایي ډګر د بیارغونې چارې پیل کړې، چې 95 سلنه کارونه يې بشپړ شوي او په نږدې راتلونکي کې به بېرته د پروازونو پر مخ پرانیستل شي.

همدارنګه په یاده ناسته کې د ازبیکستان د ترانسپورټ وزیر زیاته کړه، چې دوی د افغانستان د اسلامي امارت د ترانسپورټ او هوایي چلند له وزارت سره په ګډه د هوایي حریم د کنټرول او هوایي ډګرونو د تنظیم په برخه کې د افغان کادرونو د روزلو لپاره هم په ګډه کار کوي. نوموړي وویل چې دوی به په دغه برخه کې «84» افغانانو ته په خپل هیواد کې زده کړې ورکوي، چې لومړۍ ډله به يې راتلونکې شنبې دغه هېواد ته لاړه شي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د ازبیکستان له لوري د هوایي چلند او هوایي ډګرونو د کنټرول او تنظیم په موخه ازبیکستان کې د «84» افغانانو له مسلکي روزنې ستاینه وکړه او په مسلکي او تخصصي برخو کې يې د نورو افغان کادرونو پر روزلو هم ټینګار وکړ.



## د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د قوش تيپي کانال پرانيسته کې

«د وخت په تېرېدو سره به د قوش تيپي کانال د کرنيزو محصولاتو د پروسس لپاره په کور دننه فابريکې جوړې او بهر ته به يې په ښه ډول صادرات ولرو.»

«د قوش تيپي کانال په جوړېدو سره به زرګونو ځوانانو ته د کار زمينه برابره او په قاچاقي لارو بهر ته له تلو به خلاص شي.»

«د دغه کانال په جوړېدو سره به افغانستان د غنمو له پلوه پر ځان بسيا او په لويه کچه به بهر ته صادرات ولري.»

## معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء در افتتاح کانال «قوش‌تیپه» گفت

"امروز بسیار یک روز خوشی است که آرزوی ملت رنج دیدۀ افغانستان برآورده می‌شود."

"با بهره‌برداری این کانال افغانستان از نگاه تولیدات زراعتی به خودکفایی می‌رسد."

"با ساخت و ساز کانال قوش‌تیپه برای هزاران تن از جوانان زمینه کار مساعد خواهد شد و از رفتن به خارج از راه‌های قاچاقی نجات خواهند یافت."



ملا عبدالغني برادر اخوند: «د افغانستان اسلامي امارت د هېواد د ابادۍ لپاره پوره ژمن دی او ښې برنامې لري. په نږدې راتلونکي کې به نور ښه زيري هم ولرو.»

# توییت‌های رسمی معاونیت اقتصادی

**د ریاست الوزراء لومړی معاونیت** @FDPM_AFG · Apr 23

1/2: کمیسیون اقتصادی به ریاست ملا عبدالغنی برادر آخند معاون نخست ریاست‌الوزراء پس از بحث و گفتگوی مفصل در مورد تمام بخش‌هایی که سکتور خصوصی آمادگی سرمایه‌گذاری در آن‌ها را دارد، به تولید انرژی اولویت داد. این کمیسیون به ریاست وزارت انرژی و آب؛ وزارت معادن و پترولیم،



2 4 138

**د ریاست الوزراء لومړی معاونیت** @FDPM_AFG · Apr 21

1/3: د ریاست‌الوزراء د لومړي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ اقتصادي کمېسیون «د افغانستان بانک» له لوري د صرافانو لپاره جوړه شوې طرحه د تطبیق ور وبلله. دغه طرحه د صرافانو د تنظیم، د کاري جواز درلودو او له افغانستان څخه بهر ته د پیسو د قاچاق د مخنیوي په موخه جوړه شوې ده.



3 14 275

**د ریاست الوزراء لومړی معاونیت** @FDPM_AFG · Apr 11

1/3: کمیسیون اقتصادی به ریاست ملا عبدالغنی برادر آخند معاون نخست ریاست‌الوزراء، به نهادهای امنیتی وظیفه سپرد تا در اصول قرض‌های شرکت برشنا از ادارات دولتی و افراد زورمند با این شرکت همکاری جدی نمایند. «د افغانستان برشنا شرکت» می‌گوید پس از فتح کابل و قبل از آن، بسیاری از




**د ریاست الوزراء لومړی معاونیت** @FDPM_AFG · Apr 9

۱/۲ د ریاست‌الوزراء د لومړي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ اقتصادي کمېسیون د کانونو او پترولیم وزارت ته د هرات ولایت د غوریانو ولسوالۍ د اوسپنې کان او غور ولایت د تولک ولسوالۍ د سرپو کان د اکتشاف او استخراج د ترسره کېدو په موخه د قرارداد اجازه ورکړه.




**د ریاست الوزراء لومړی معاونیت** @FDPM_AFG · Apr 7

۱/۲:

د ریاست الوزراء لومړي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند سرپل ولایت ته سفر کړی او هلته یې د قشقرۍ په نامه د تېلو د یو بلاک پرانیسته وکړې. دغه بلاک د نفتو ۱۰ څاګان لري، چې له ډلې یې ۹ څاګان فعال او له پرانیستنې سره سم یې ورځخه د نفتو ایستل پیل سي.



**د ریاست الوزراء لومړی معاونیت** @FDPM_AFG · Mar 24

۱/۲: د ریاست‌الوزراء لومړي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند په چهارچنار ماڼۍ کې د افغانستان لپاره د روسیې له ځانګړي استازي "ضمیر کابلوف" او مل هیئت سره وکتل. محترم ملاصاحب په بشري او امنیتي برخو کې د روسیې له مرستو مننه وکړه او په نړیوالو فورمونو او د ملګرو ملتونو په ورستۍ ناسته



3 19 246

**د ریاست الوزراء لومړی معاونیت** @FDPM_AFG · Feb 22

۴/۱: ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون نخست ریاست‌الوزراء در کاخ چهارچنار با سردار عمر زاکوف، معاون رئیس جمهور ازبیکستان در امور اقتصادی دیدار کرد و با وی در مورد راه اندازی پروژه های بزرگ اقتصادی در افغانستان، ساخت راه آهن، تولید برق، تجارت و ترانزیت گفتگو کرد.



5 8 190

# فصل نوینِ خودکفایی؛ جلب سرمایه‌گذاری خارجی در منابع طبیعی افغانستان

با پیروزی امارت اسلامی بسیاری از گمانه‌زنی‌ها مبنی بر این‌که جلب سرمایه‌گذاری و علاقه‌مندی به آن از سوی کشورها و کمپنی‌های بزرگ خارجی از میان خواهد رفت نادرست ثابت شد. پس از تامین امنیت سرتاسری در افغانستان، امارت اسلامی با دنبال کردن سیاست اقتصادمحور و مبتنی بر منافع و ارزش‌های دینی و مذهبی مردم افغانستان بدون تکیه به هیچ یک از قدرت‌های منطقه و جهان نشان داد که می‌توانند چالش‌های گذشته را به فرصت‌ها مبدل سازد. چنانچه یکی از چالش‌های کلان در چهار دهه‌ای پسین تمرکز بر وابسته‌گی سیاسی به قدرت‌های بیگانه‌ای شرقی و غربی بود که این سیاست از یک طرف نتوانست آینده‌ای با ثبات سیاسی و اقتصادی را رقم بزند و از سوی دیگر همگرایی و جایگاه کشورهای همسایه و منطقه را به جایگاه ثانوی و رقابت ناسالم مبدل کرد.

با روی کار آمدن امارت اسلامی فصل نوین خودکفایی و جلب سرمایه‌گذاری به ویژه پیرامون استخراج منابع سرشار طبیعی افغانستان و نیز فصل همگرایی با کشورهای منطقه و جهان بوجود آمده است. آغاز کار بالای پروژه‌های بزرگ انتقال انرژی از آسیای میانه به جنوب آسیا، آمادگی سرمایه‌گذاری کشورها و کمپنی‌های بزرگ بالای منابع دست‌نخورده‌ای افغانستان امید به خودکفایی و اتکا به منابع داخلی و نیز کسب منافع به کشورهای همسایه و منطقه از این رهگذر را مساعد کرده است.

## اهمیت جایگاه افغانستان در منطقه

افغانستان از نگاه جیوپولیتیک کوتاه‌ترین نقطه‌ای اتصال کشورهای آسیای میانه، جنوب آسیا و خاورمیانه می‌باشد. این مناطق از نظر داشتن منابع سرشار طبیعی نفت و گاز بیشترین سهم در تولید و ترانزیت انرژی در جهان را دارد که ارتباط دهنده‌ای حدود 3 میلیارد انسان به بازارهای منطقه‌ای و جهانی می‌باشد. اهمیت این مسأله را قدرت‌های بزرگ به ویژه غرب به خوبی درک کرده است. چنانچه یکی از محورهای اساسی سیاست خارجی امریکا به ویژه پس از سال 2012م توجه به آسیا-پسیفیک است که مهم‌ترین مسأله در این قضیه نظارت و تسلط بر مسیر انتقال انرژی آسیا و خاورمیانه از طریق مالاکا به چین می‌باشد.

افغانستان به عنوان یکی از کانون‌های قدرت، اقتصاد، تمدن و فرهنگ در طول تاریخ بر مناطق ماحول خود تاثیرگذار بوده است. در این میان تهاجم و شکستِ سه قدرت بزرگ جهان از ویژگی‌های اهمیت این جغرافیا را به نمایش می‌گذارد. برعلاوه پیوسته‌گی جغرافیایی و مشترکات دینی، مذهبی، فرهنگی، قومی و زبانی با کشورهای آسیای میانه از یک سو و جنوب آسیا از سوی دیگر بر اهمیت آن افزوده است؛ هرچند این پیوسته‌گی‌ها فرصت‌ها و چالش‌هایی را هم به همراه بوده است.

## فرصت‌های سرمایه‌گذاری در منابع طبیعی افغانستان

با نگاه به پس‌منظر تاریخی نخستین اصول‌نامه تشویق سرمایه‌گذاری خصوصی خارجی در افغانستان در سال 1343 هـ.ش و در زمان نظام شاهی در جریده رسمی به نشر رسید. از آن زمان به بعد سرمایه‌گذاران خصوصی و دولتی خارجی بالای منابع طبیعی و سایر سکتورهای دیگر در افغانستان آغاز به سرمایه‌گذاری کردند.

با توجه به منابع دست‌نخورده‌ای افغانستان فرصت‌های سرمایه‌گذاری زیادی وجود دارد. بر اساس تحقیقات زمین شناسی امریکا ذخایر معادن افغانستان بیش از یک تریلیون دالر تخمین زده شده است. افغانستان همچنان دارای ذخایر جهانی آهن، مس، طلا، منرال‌های خاکی کمیاب، سنگ‌های قیمتی، فلزات نادر خاکی، تالک و کرومایت می‌باشد. در مجموع ذخایر معادن افغانستان شامل بیش از 2,2 میلیارد تُن سنگ معدنی سنگین، 3,1 میلیارد تن سنگ مرمر، حدود 30 میلیون تُن مس و 2700 کیلوگرام طلا می‌باشد.[1]

## روند جلب سرمایه‌گذاری خارجی در افغانستان

امارت اسلامی افغانستان به منظور جلب سرمایه‌گذاری در مدت زمان اندک سهولت‌های زیادی را جهت جلب سرمایه‌گذاری خارجی فراهم ساخته است. ایجاد سهولت در قوانین و پالیسی‌های سرمایه‌گذاری، سهولت در اجرای ویزه، ارایه‌ای فرصت‌ها و رهنمایی سرمایه‌گذاری داخلی و خارجی، خدمات توزیع زمین و توجه به ارایه خدمات برقِ بیشتر برای پارک‌های صنعتی و صنعت‌کاران از مسایل اند که با آمدن امارت اسلامی به هدف جلب سرمایه‌گذاری روی دست گرفته شده است. در این میان مهم‌ترین مسأله در روند جلب سرمایه‌گذاری خارجی تامین امنیت سرتاسری می‌باشد که در بیست سال گذشته یکی از مشکلات اصلی سر راه سرمایه‌گذاری محسوب می‌شد. برعلاوه فساد و نیز نهادهای موازی از مشکلات بود که در بیست سال گذشته بالای سرمایه‌گذاری تاثیر منفی گذاشته بود.

در حال حاضر هرچند برخی از چالش‌ها از جمله نوسازی قوانین به دلیل پاسخگو نبودن آن در عصر کنونی وجود دارد، زیرا بسیاری از اصطلاحاتِ علم تجارت در این قوانین که مربوط به چند دهه قبل می‌شود ناشناخته و تعریف ناشده باقی مانده است؛ اما تلاش‌ها جریان دارد تا راه حل بنیادی به این چالش‌ها پیدا شود. با این همه اما با روی کار آمدن امارت اسلامی مشکلات اصلی همچون فساد ریشه‌کن شده است، و تلاش‌ها جریان دارد تا نهادهای موازی جهت ساده‌سازی روند پیشبرد سالم کاری و ارایه خدمات بهتر از میان برداشته شود.

## علاقه‌مندی سرمایه‌گذاری خارجی در افغانستان

بسیاری‌ها گمان می‌برند که عدم به رسمیت شناختن امارت اسلامی از سوی کشورها روند علاقه به سرمایه‌گذاری خارجی در افغانستان را زیر سایه قرار داده از این‌رو همه چیز را به عقب خواهد برد. اما رفت و آمدهای دیپلوماتیک و

نیـز علاقه‌منـدی سرمایه‌گـذاران خارجـی نشـان داد کـه کشـورها و کمپنی‌هـای بـزرگ خواهـان سرمایه‌گذاری عظیـم در افغانسـتان می‌باشـند. ایـن مسـأله را می‌تـوان قـرار ذیـل مـورد ارزیابـی قـرار داد:
سـفر وزیـر امـور خارجـه‌ی چیـن بـه افغانسـتان و تاکیـد بـر تقویـت روابـط تجارتـی بـا فغانسـتان و تمرکـز در اسـتخراج معـادن، سـاخت جاده‌هـا، شـفاخانه‌ها، افزایـش محصـولات زراعتـی، معیـاری سـاختن صـادرات، صـدور ویـزا بـه تاجـران افغـان، امضـای توافقنامه‌هـای گسـترش سرمایه‌گـذاری، ایجـاد زون‌هـای اقتصـادی در بخـش انـرژی، آب، زغـال سـنگ و آمـوزش انجنیـران افغـان در بخـش صنعـت، از مهم‌تریـن مسـایل مـورد بحـثِ ایـن سـفر بـود. همزمـان بـا ایـن، سـفر «ضمیـر کابلـوف» نماینـده‌ای خـاص روسـیه بـرای افغانسـتان بـه کابـل و تاکیـد بـر تقویـت روابـط سیاسـی از جملـه پذیـرش نماینـدگان دیپلوماتیـک امـارت اسـلامی از سـوی مسـکو و تقویـت روابـط اقتصـادی و نیـز وعـده‌ای ارسـال نفـت و گاز بـه افغانسـتان از موضوعـات مهـم ایـن سـفر بـود.
سـفر همزمانـی نماینـدگان بلندپایـه‌ای آلمـان و هالنـد بـه کابـل و تعهـدی کمک‌هـای بشردوسـتانه‌ای 600 میلیـون یورویـی آلمـان بـه مـردم افغانسـتان. همچنیـن سـفر نماینـدگان بلندپایـه‌ای ایـران بـه کابـل و برعکـس سـفر وزیـر امـور خارجـه‌ی افغانسـتان و نیـز علاقـه‌ی ایـران در رابطـه بـه سرمایه‌گـذاری بـالای اسـتخراج معـادن، زراعـت، ترانزیـت و پروسـس مـواد غذایـی از مسـایل مهـم ایـن سـفرها بـه شـمار مـی‌رود. «هـن ریومـن» رئیـس شرکـت ملـی نفـت چیـن(CNPCI)[2] و نیـز «محمـد مـراد امانـوف» رئیـس اجرائیـوی کمپنـی پایپ‌لایـن گاز تاپـی[3] در سـفری بـه کابـل بـا مقام‌هـای امـارت اسـلامی پیرامـون سرمایه‌گـذاری بـالای اسـتخراج معـادن افغانسـتان و همچنـان آغـاز کار پـروژه تاپـی دیـدار و گفتگـو کردنـد.
در سـفر مهـم دیگـر بـه کابـل «سـردار عمـر زاکـوف» معـاون نخسـت وزیـر اوزبیکسـتان پیرامـون آغـاز پروژه‌هـای بـزرگ اقتصـادی، سـاخت خـط آهـن، تولیـد بـرق، تجـارت و ترانزیـت بـا مقام‌هـای بلندپایـه‌ای امـارت اسـلامی افغانسـتان گفتگـو کـرد. کار بـالای احـداث سـه پـروژه بـزرگ خـط آهـن



«مزارشریف-کابل-پشاور»، «مزارشریف-هرات-چابهار-کندهار» و پروژه‌ای 500 کیلووات سرخان-پلخمری از اولویت‌های برنامه‌های اقتصادی افغانستان با کشور همسایه اوزبیکستان می‌باشد.
افغانستان یکی از شرکای مهم تجارتی و اقتصادی اوزبیکستان به شمار می‌رود. حجم تجارت میان دو کشور در سال 2020م حدود 615 میلیون دالر بوده و قرار است این رقم تا سطح یک‌ونیم میلیارد دالر در سال افزایش یابد.[4] اوزبیکستان علاقه‌مند است که از طریق افغانستان به بندر چابهار-ایران و از مسیر تورخم به پاکستان و جنوب آسیا وصل گردد. در صورت آغاز خطوط آهن، افغانستان با توجه به جایگاه ترانزیتی منطقه‌ای‌اش عواید سرشاری را به دست خواهد آورد.

## فصل نوین خودکفایی

این یک واقعیت است که مردم افغانستان در شرایط دشوار اقتصادي به سر می‌برند، نوسازی و پیشرفتی که زیربنای پایدار اقتصادي را تشکیل مي‌دهد کاملاً به چرخش درنیامده است. اما پس از روی کار آمدن امارت اسلامی و اعلام سیاست اقتصادمحور، ریشه‌کن ساختن فساد، افزایش در جمع‌آوری مالیات، استخراج معادن -هرچند در مقیاس کوچک- و علاقه‌مندی سرمایه‌گذاران خارجی بالای استخراج منابع طبیعی افغانستان نشان از رشد اقتصادی می‌باشد.
امارت اسلامی افغانستان در چارچوب برنامه‌های کوتاه مدت و درازمدت به ویژه در راستای استخراج منابع طبیعی و ایجاد سهولت‌های سرمایه‌گذاری رسیدن به خودکفایی را امیدوار ساخته است. هرچند رسیدن به قله‌های موفقیت دشواری‌ها و تحمل زمانی خود را می‌طلبد، با آن هم از نیت و برنامه‌های کلان امارت اسلامی در راستای تامین امنیت سرتاسری، ریشه‌کن کردن فساد و ایجاد سهولت‌ها برای جلب سرمایه‌گذاری معلوم می‌شود که همه‌ی این‌ها به هدف رشد اقتصادی و بهبود زندگی مردم روی دست گرفته شده است.




***منابع:***

*1. فرصت‌های سرمایه‌گذاری در سکتور صنایع استخراجی افغانستان؛ وزارت معادن و پترولیم، ص ۱۰، سال چاپ ۱۳۹۸.*

*2. سایت ریاست عمومی دفتر مقام ریاست الوزراء: ۱۰٤۳/https://ocs.gov.af/dr/news_details.*

*3. صفحه تویتر «د ریاست الوزراء لومړي معاونیت» تاریخ نشر: ۲۰۲۲,۰۳,۱٦.*

*4. تحقیقی در روزنامه هشت صبح: https:///۸am.af new-page-in-afghanistan-uzbekistan-relations-opportunities-and-challenges/.*

# د اقتصادي کمېسیون کارونو ته ځغلنده کتنه

د اقتصادي چارو کمېسیون د افغانستان اسلامي امارت د رهبرۍ د مقام د 21 مې او 22 مې ګڼې فرمانونو پر بنسټ د 1400 لمریز کال د مرغومي میاشتې په 29 مه نېټه رامنځته شو. د دغه کمېسیون له جوړېدو څخه د افغانستان اسلامي امارت د رهبرۍ موخه د هېواد د اقتصادي چارو سم مدیریت، له خصوصي سکتور سره د ستونزو د حل په برخه کې آسانتیاوې رامنځته کول، د بهرنیو پانګوالو د سفر او د ویزو د ورکړې په برخه کې د لازمو سهولتونو برابرول، پر عوایدو د مالیې د اندازې کمول، پر واردوونکو توکو د مالیې کمېدل، کوچنیو او متوسطو متشبثینو ته د مالیې د یوې برخې معافیت او د راتلونکي کال لپاره د کمې فیصدۍ اخیستل، کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته د کار جواز د اخیستو په برخه کې اړینې آسانتیاوې، اسعارو پر وړاندې د نوسانونو اندازه راکمه او د وخت په تېرېدو سره افغانۍ د بهرنیو اسعارو پر وړاندې خپل د ثبات حالت تر لاسه کړ. دا چې اوس افغانۍ د بهرنیو اسعارو خصوصاً د ډالرو په مقابل کې یو څه ثبات پیدا کړی خو ارزښت یې تر اوسه پورې هغې اندازې ته نه دی رارسېدلی چې د بازار تقاضا ده، اقتصادي کمېسیون هڅه کوي، چې د بهرنیو مرستو په راجلبولو



همکاري ترڅو کورنۍ او بهرنۍ پانګونې ته د جلب او جذب زمینه برابره شي، په تدارکاتي پروسو کې د اسانتیاوو رامنځته کول او د دغه کمېسیون تر چتر لاندې د وزارتونو او ادارو د چارو او کړنو تنظیم یې له اساسي موخو څخه ګڼل کېږي.

د دغه کمېسیون د جوړېدو درې میاشتې پوره کېږي او په دومره وخت کې یې 19 ناستې ترسره کړې دي. د دغو ناستو په تر سره کېدو یې د لویو اقتصادي موضوعاتو په اړه لکه د ملي اقتصاد، سوداګرۍ، انرژۍ سکتور، صنعت او د کرنې، مالدارۍ او اوبو لګولو په برخه کې اړینې پرېکړې او د لویو اقتصادي پروژو د پیل په اړه لازم تصمیمونه یکې نیول شوي دي، چې دلته هرې برخې ته ځغلنده کتنه شوې ده.

**لومړی: د ملي اقتصاد په برخه کې**

**1. د پانګونې په برخه کې ترسره شوي کارونه:** د اقتصادي کمېسیون په مختلفو ناستو کې د پرېکړو پر اساس دکورنیو او بهرنیو پانګوالو د جلب او جذب په موخه د پانګونې په اړه د قوانینو په برخه کې د بهرنیو او کورنیو پانګوالو لپاره د مادي او ځاني مصؤونیت په برخه کې د کوټلو ګامونو اخیستل په ټوله کې له بهرنیو او کورنیو پانګوالو څخه د حکومت حمایت او د پانګونې په برخه کې د اړینو اسانتیاوو رامنځته کول هغه څه دي، چې د اقتصادي کمېسیون په جوړېدو سره تر اوسه پورې ترسره شوي دي.

**2. د افغانۍ د ارزښت او ثابت پاتې کېدو په برخه کې شوي پرمختګونه:** د کابل له اداري سره د امریکا د مرستو په کمېدو افغانۍ د بهرنیو اسعارو پر وړاندې خپل ارزښت له لاسه ورکړی و؛ خو کله چې کابل اداري سقوط وکړ، افغانۍ د بهرنیو اسعارو په تېره بیا د ډالر پر وړاندې په بې‌ساري ډول خپل ارزښت له لاسه ورکړ. همدارنګه کله چې امریکا د افغانانو شخصي شمتنی کنګل کړې، نو له دې وجې افغانۍ د بهرنیو اسعارو پر وړاندې له زیاتو نوسانونو سره مخ شوه، خو د اقتصادي کمېسیون له جوړېدو سره په دې برخه کې لازمي او پر وخت پرېکړې تر سره شوې، چې په پایله کې یې افغانۍ د بهرنیو او پراخې پانګونې ته د زمینې په برابرولو سره به دې ته لار هواره شي، چې افغانۍ د بهرنیو اسعارو خصوصاً د ډالرو مقابل کې خپل ارزښت لوړ کړي.

**3. د بانکوالۍ په برخه کې تر سره شوي کارونه:**
د کابل اداري د غلطو پرېکړو، پراخ اداري فساد او د مافیایي کړیو شتون د دې لامل شوی و، چې ټولو هېوادوالو پر بانکونو خپل اعتماد له لاسه ورکړ. د کابل اداري له سقوط سره هر هېوادوال هڅه کوله، چې خپلې شتمنۍ له بانکه وباسي، دغه حالت په هېواد کې د بانکوالۍ نظام له سختو ستونزو سره مخ کړی و؛ خو د اقتصادي کمېسیون د سمو پرېکړو او لازمو تصمیمونو په رڼا کې افغانستان بانک وکولای شول، چې له خصوصي سکتور سره په ګډه بانکونه له دیوالي کېدو وژغوري او اوس ورځ تر بلې د بانکوالۍ چارې د نورمال کېدو حالت ته روانې دي. په دې وروستیو کې افغانستان بانک اعلان وکړ، چې ټول دولتي او د خصوصي سکتور کارمندان کولای شي، چې خپل معاشونه له هر یوه بانک څخه یې

چې زره غواړي تر لاسه کولای شي. همدارنګه يې اعلان وکړ، چې ټول پانګوال او صنعت‌کاران کولای شي، چې له کوم قيد او شرط پرته د خامو موادو او سوداګريزو توکو د پېرلو لپاره پيسې بهرنيو هېوادونو ته واستوي.

**4. د بېکارۍ په برخه کې اخيستل شوي ګامونه:** د بېکارۍ موضوع د تېرو شلو کلونو نامناسبو تصاميمو، ناوړه مديريت، په پراخه کچه د فساد شتون، د هېواد اشغال او د وخت اداري د بې‌کفايتۍ پايله ده. دا به ممکنه نه وي، چې حکومت په لنډمهال کې د بېکارۍ ستونزه حل کړي خو د اقتصادي کمېسيون له لوري د لويو اقتصادي پروژو په پيل د خصوصي سکټور تقويه او د بهرنيو پانګوالو جذب به سبب د دې شي، چې د بېکارۍ کچه تر يو حده پورې راکمه شي او په دې برخه کې پرمختګ هم شوی دی.

**5. انفلاسيون:** د پيسو پړسوب يا هم د بيو لوړوالی؛ افغانستان يو وارداتي هېواد دی تقريبا تر 80 سلنې زيات د اړتيا وړ شيان له بهرنيو هېوادونو واردوي. د هغو د پېرلو لپاره اړينه ده، چې سوداګر يې په بهرنيو اسعارو معمولاً په ډالرو وپېري. نو اړتيا ده چې افغانۍ د بهرنيو اسعارو په مقابل کې ثبات ولري. په دې نږدې وختونو کې اقتصادي کمېسيون، چې مشري يې د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال ملا عبدالغني برادر اخوند کوي د لازمو هداياتو په نتيجه کې افغانستان بانک وکولای شول، چې افغانۍ د بهرنيو اسعارو پر وړاندې باثباته وساتي، چې په پايله کې يې په بازار کې نرخونه هم کنټرول شوي دي.

## دوهم: د سوداګرۍ په برخه کې

د 1400 لمريز کال په جريان کې د افغانستان د صادراتو کچه له يو مېليارد ډالرو لوړه شوې، چې لومړی ځل دی چې د افغانستان د صادراتو کچه له يو مېليارد ډالرو لوړېږي، چې د 1399 لمريز کال په پرتله 33 سلنه زياتوالی ښيي. اساسي لامل يې په هېواد کې د نوي نظام په راتګ سره د فساد له منځه تلل، د مافيايي کړيو له کنټرول نه د بازار ايستل، له ګاونډيو او سيمې له هېوادونو سره د متقابلې همکارۍ په پار د دروازو پرانيستل او په ټوله کې په هېواد کې سرتاسري امن د دې سبب شو، چې د صادراتو کچه لوړه شي. د وارداتو د اندازې په اړه تر اوسه پورې دقيق معلومات د صنعت او سوداګرۍ وزارت يا هم بل اړوند ارګان له لوري نه دي خپاره شوي؛ خو دومره ويلی شو، چې د وارداتو په کچه کې هم په زياته اندازه کمښت راغلی دی. دلايل يې زيات دي خو دلته يوازې دومره ذکر کولای شو، چې پخوا د افغانستان اقتصاد په بهرنيو مرستو ولاړ اقتصاد و، د هېواد اشغال له ختم سره د افغانانو په نامه هغه مرستې چې بېرته د اشغال د پلويانو جېبونو ته تللې، هم بندې شوې. د اسلامي امارت هڅه به دا وي، چې د صادراتو کچه لوړه او د وارداتو هغه راکمه کړي او دا کار به د هېواد دننه هېوادوالو ته د کار زمينه برابره کړي، هېواد به اقتصادي ثبات په لوري حرکت وکړي او افغانۍ به مو د بهرنيو اسعارو پر وړاندې ثبات پيدا کړي.

## درېيم: د انرژۍ په سکټور کې

د رياست‌الوزراء د اقتصادي مرستيال ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ اقتصادي کمېسيون د پرېکړې پر اساس؛ په هغه برخو کې، چې خصوصي سکټور پکې پانګونې ته چمتو دی؛ د برښنا توليد ته لومړيتوب ورکړي. دغه کمېسيون د اوبو او انرژۍ وزارت په مشرۍ؛ د کانونو او پټروليم وزارت، سوداګرۍ او صنعت وزارت، د صنعت او معدن او همدارنګه د سوداګرۍ او پانګونې خونو ته دنده ورکړه، څو له ډېرو سکرو څخه د برښنا د توليد په برخه کې صنعتي پارکونو، لويو ښارونو او دې ته ورته ساحو کې د ډېرو سکرو حجم او د برښنا اړتيا ته په کتو په ګډه لومړيتوبونه معلوم او وروسته په دې برخه کې عملاً کار پيل کړي. دا د انرژۍ په سکټور کې يو مهم ګام دی، چې د اقتصادي کمېسيون د مشرتابه له لوري اخيستل کېږي.

همدارنګه په سرپل ولايت کې د قشقري د تېلو د استخراج پيل، چې په ورځني ډول تر 14 مېليونه افغانيو ملي عوايدو ته جمع کېږي، سلګونو کسانو ته د کار زمينه ورسره برابره شوې او تر ټولو مهمه دا چې توليد افغاني دی.

## څلورم: د صنعت په برخه کې

افغانستان د نړۍ له درېيمه درجه هېوادونو څخه دی، صنعت يې هم تقريبا په سنتي شکل مخ ته ځي؛ خو دا چې موږ څنګه وکولای شو تر څو خپل صنعت مدرن کړو، دا د حکومت د اوږدمهاله ستراتيژۍ برخه ده خو اوسمهال د اقتصادي کمېسيون مشرتابه هغه ستونزې، چې صنعت‌کاران ورسره مخامخ وو تر ډېره حده پورې حل کړي دي، چې دلته يې يادونه کولی شو: د برق ستونزه، چې تر پخوا 2 ساعته زياتوالی پکې راغلی، د خامو موادو راوړلو پر وړاندې ستونزې، د پيسو د انتقال پر وړاندې ستونزې، چې د اقتصادي کمېسيون په هڅو په سم شکل حل شوې دي. همدارنګه د صنعت په برخه کې د پانګونې لپاره د افغانستان اسلامي امارت په ټول توان کورنيو او بهرنيو پانګوالو ته د همکارۍ ډاډ ورکړی. د پانګونې د قوانينو او بهرنيو پانګوالو ته د وېزو د ورکړې په برخه کې هم لازمې اسانتياوې رامنځته شوې دي.

## پنځم: د کرنې او مالدارۍ په برخه کې

زراعت د افغانستان په اقتصاد کې حياتي ارزښت لري او د اقتصادي ودې محرک ګڼل کېږي. همدا لامل دی، چې کرنه د افغانستان د کورنيو توليداتو د توليز ارزښت تر شل سلنې زياته برخه جوړوي. د کرنې په برخه کې د اقتصادي مرستيال له لوري د قوشتېپې کانال پرانيسته وه، چې 3 مېليون جريبه ځمکه، چې د افغانستان د ټولې کرنې وړ ځمکې 33 سلنه تشکيلوي، خړوبه کړي، زرګونو کسانو ته به د کار زمينه برابره شي او افغانستان به وکولای شي، چې د غلو دانو له اړخه پر ځان بسيا شي. همدارنګه ملګرو ملتونو د تېر يو کال په جريان کې له 1.3 مېليون کروندګرو سره د اصلاح شوو تخمونو او نورو اړينو توکو مرسته کړې ده. همدا ډول د افغانستان اسلامي امارت پر داسې طرحه کار کوي، چې په پايله کې وکولای شي، په ټول هېواد کې د کرنې وړ ځمکې د اوږدمهال لپاره د کرکېلې په موخه د عامو وګړو په واک کې ورکړي. همدا راز په ټول هېواد کې د کوکنارو د کښت د ممنوعيت په هکله د عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ هبةالله حفظه الله فرمان، چې تر دې وروسته د کوکنارو پر کښت بنديز ولګېد. دغه راز د افغانستان اسلامي امارت کوښښ کوي، چې له کروندګرو سره د مرستې په پار د همکارۍ صندوق رامنځته کړي، چې له دغه صندوق سره به کورنۍ او بهرنۍ مرستندويه اداري همکاري کوي او تر هغې وروسته به د افغانستان اسلامي امارت له لوري په ټول هېواد کې د کروندګرو ستونزو ته په کتو همکاري ورسره کېږي.



# په افغانستان کې د ځانګړو اقتصادي زونونو اهمیت ته کتنه

که غواړئ په هېواد کې بهرنۍ تجارت پیل کړئ، پیل به یې څنګه او له کومه ځایه کوئ؟ مثلاً، د کور د وسایلو تولید یا هر محصول چې له بهره د تجهیزاتو او ماشین‌الاتو واردولو ته اړتیا لري. لومړی باید د ماشین‌الاتو د ځای پر ځای کولو لپاره د اجارې یا یوه ځای جوړولو په باب فکر وکړئ، چې زیاتو لومړنیو لګښتونو ته اړتیا لري. په دویم قدم کې، باید

خو اقتصاد د دې ستونزې د حل او د تولید ډګر ته د ننوتو په برخه کې د متشبثینو او حقیقي پانګوالو لپاره مناسبې حللارې په پام کې نیولې دي. په ځانګړو اقتصادي زونونو کې د دا ډول سوداګرۍ پیلول د اقتصادي فعالانو تولیدي لګښتونه خورا کموي. ځانګړی اقتصادي زون د هېواد په پولو کې پر هغې جغرافیایي محدودې اطلاقېږي، چې هلته حاکم

سرچینو څخه د اغیزمنې ګټې اخیستنې، د ټیکنالوژۍ لېږد او مهارتونو په پراختیا کې مرسته کوي. هغه سیمه ده چې د مالیاتو او سوداګرۍ قوانین یې د هېواد له نورو برخو سره توپیر لري.

دا سیمې د متشبثینو د فعالیت د پیل لپاره مناسبه اډانه لري. مثلاً، په ځانګړو اقتصادي زونونو کې د ځمکې بیه تر ښاري سیمو ښایي په مراتبو ټیټه وي. هر




د اړتیا وړ تجهیزاتو واردولو لپاره ګمرکي تعرفه ورکړئ، چې د اوږو مالي پېټی مو لا درنوي. د دغو عواملو ټولګه ستاسو د محصول د تولید لګښت زیاتوي او البته د ورته محصولاتو پر وړاندې ستاسو د رقابت قدرت راټیټوي.

تجارتي قوانین د هېواد تر نورو برخو کم محدودیت لري. ځانګړي اقتصادي زونونه د ځانګړو زونونو شاوخوا سیمې د زیربناوو د پراختیا لپاره اغېزمن دي، چې د سوداګرۍ اسانتیا، د سیمې خلکو ته د کار موندلو، بهرنۍ پانګونې راجلبولو، عاید زیاتولو، له

هېواد ځانګړی اقتصادي زون خپله ځان ته تعریفوي. په ۲۰۰۸ کې د نړیوال بانک له راپور سره سم، په وروستیو کې په ځانګړي اقتصادي زون کې په معمولي توګه دغه موارد شامل دي: «محدوده جغرافیایي سیمه؛ معمولا په فزیکي لحاظ خوندي

(محصوره)؛ واحد مدیریت لري؛ په سیمه کې د فزیکي ځای پر اساس ګټې او جلا ګمرکي ساحه پکې شامل دي.»

په ځانګړو اقتصادي زونونو کې زیربناوې داسې ډیزاین شوې چې په مناسبه بیه د اوبو او انرژۍ سرچینو ته لاسرسی ولرئ. په بله وینا، تاسو به د شرکت جوړولو تر څنګ، د صنعتي برښنا، د فاضله موادو مناسب سیستم او د اوبو سرچینو ترلاسه کولو لپاره خورا آسانه لاره ولرئ. پردې سربیره، خپل تجهیزات ځانګړي اقتصادي زون ته په ټیټه ګمرکي تعرفه او مناسب ګمرکي او مالیاتي معافیت سره راوړلی شئ. له دغه ځایه تاسو بهر ته د خپلو محصولاتو د صادراتو او هېواد ته یې د واردولو امکان لرئ. دا باید په پام کې ونیول شي چې هېواد ته له ځانګړي اقتصادي زون څخه د هر ډول توکو وتل لکه د نورو وارداتي توکو په څېر به د ګمرکي محصول تابع وي، مګر دا چینل هم خپلې ګټې لري.

لکه څنګه چې وینئ، ځانګړي اقتصادي زون هم بهر ته د محصولاتو د صادرولو زمینه برابروي او هم د وارداتي محصولاتو او اړوندو صنایعو وضعیت ښه کوي. په هر هېواد کې، په هره سیمه کې شته پوتنشیل ته په کتو د ځانګړو اقتصادي زونونو د جوړولو او مدیریت په برخه کې مجموعي پالیسي غوره کېدای شي. دا پالیسي باید داسې وي چې اړوند صنایع په هره سیمه کې له اړتیا سره سم فعالیت پیل کړي. پر دې سربېره دا ځانګړي زونونه نورو ملاتړونو ته هم اړتیا لري. مثلاً که یو شرکت یو داسې خاص محصول تولید کړي چې واردات یې اوسمهال په هېواد کې خورا لوړ دي، دولت باید لومړی د هغه توجیهي او تخنیکي پلان په داسې ډول وڅېړي چې پایله یې دا وي چې د فعالیت پیل یې د کارموندنې پر رامنځته کولو سربېره د پیسو وتلو د کمښت او په هېواد کې د هغه محصول د کیفیت د ښه‌والي لامل شي. خو د دغو مواردو تر څنګ د دولت مهمه دنده د وارداتو پر وړاندې د دغو صنایعو ملاتړ دی. کله ناکله لیدل کېږي چې د حکومت له لوري د ځانګړي اقتصادي زون د صنعتکارانو نه ملاتړ او د ځینو محصولاتو غیرقانوني ورود او قاچاق په دغو زونونو کې د فابریکو د تړلو لامل کېږي.

## په نړۍ کې د اقتصادي زونونو اغېزې

د نړۍ پر اقتصادي وده د ځانګړو اقتصادي زونونو اغېزې په لاندې چارت کې روښانه کولی شو:

د سیمې په کچه د ځانګړو اقتصادي زونونو اغېزې

| | |
|---|---|
| ټول ځانګړي اقتصادي زونونه | 3,500 |
| د نړۍ صادرات | 15.46 Trillion USD |
| د ځانګړو اقتصادي زونونو د صادراتو مجموعه | 3.5 Trillion USD |
| د ځانګړو اقتصادي زونونو د صادراتو سلنه | 22.63 % |
| په ځانګړو اقتصادي زونونو کې د بوختیاوو مجموعه | 66 Million |

**1. په چین کې د ځانګړو اقتصادي زونونو ونډه:**

- کورني ناخالص تولیدات (GDP): 22 سلنه
- کاري فرصتونه: 30 میلیونه

صادرات: 1265 میلیارده امریکایي ډالره (د عمومي صادراتو 62سلنه)

**2. په دُبۍ کې د ځانګړو اقتصادي زونونو ونډه:**

- کورني ناخالص تولیدات (GDP): 32 سلنه
- کاري فرصتونه: 400.000
- صادرات: 61.29 میلیارده امریکایي ډالره (د عمومي صادراتو 20.4 سلنه)

**3. په هندوستان کې د ځانګړو اقتصادي زونونو ونډه:**

- کورني ناخالص تولیدات (GDP): 3.72 سلنه
- کاري فرصتونه: 1.56 میلیونه
- صادرات: 72 میلیارده امریکایي ډالر (د عمومي صادراتو 30 سلنه)

## په افغانستان کې د اقتصادي زونونو اغېزې او اهمیت

د افغانستان اقتصاد په تېرو څو لسیزو کې لکه څنګه چې تمه او اړتیا وه، هغسې وده یې ونه کړه، نه یوازې دا چې پر ځان بسیا نه شو، بلکې دلته یو کاذب او پر بهرنیو مرستو ولاړ اقتصاد رامنځته شو. په داسې حال کې چې افغانستان د آسیا زړه دی، مرکزي آسیا له جنوبي آسیا سره نښلوي او بډایه او بکرې طبیعي زیرمې لري. د کانونو او طبیعي زېرمو له مخې د سیمې او نړۍ په کچه یو بډای هېواد دی، ښه ستراتیژیک موقعیت لري، د کرنې او زراعتي تولیداتو په برخه کې وده کولی شي، او پوره کاري ځواک او انرژۍ پکې موجوده ده.

نو اوسمهال د همدې موخې لپاره د افغانستان اسلامي امارت د سوداګرۍ او صنعت وزارت د افغانستان په نهه ولایتونو کې د نهو ځانګړو اقتصادي زونونو د جوړېدو طرحه جوړه کړې او د اسلامي امارت له اقتصادي کمیسیون سره یې د منظورۍ په موخه شریکه کړې ده. دا زونونه به په کابل، کندهار، پروان، هرات، بلخ، ننګرهار، خوست، هلمند او لوګر کې جوړېږي. نو له دې امله په مرکز کابل او نورو سترو ښارونو او سرحدي ولایتونو کې د ځانګړو اقتصادي زونونو جوړېدل به د افغانستان په اقتصادي وده او د هېواد په ښېرازۍ او پر ځان بسیاینه کې ستر رول ولري. د دغو زونونو جوړېدل به زموږ هېواد له نړیوالو پرمختللو شرکتونو څخه د پوهې، ټیکنالوژۍ او مهارتونو په لېږد کې مهم رول ولوبوي او په دې برخه کې به ډېر اغېزمن واقع شي چې په لږو منابعو او کم وخت کې به زیات تولید وکړي او افغاني محصولات به مختلفو سیمو او نړیوالو بازارونو ته ورسوي. لکه څنګه چې یادونه وشوه د اقتصادي زونونو رامنځته کېدل د یوه هېواد د اقتصادي ودې او رشد لامل کېږي، نو په افغانستان کې به د اقتصادي زونونو جوړېدل د دغه هېواد پر اقتصادي وده لاندې اغېزې ولري:

1. د صادراتو وده؛
2. د سړي سر (سرانه) عوایدو زیاتوالی؛
3. د کورنیو ناخالصو تولیداتو (GDP) وده؛
4. کارموندنه؛
5. د هېواد په سوداګرۍ کې توازن؛
6. هېواد ته د بهرنۍ پانګې راتګ؛
7. په زون کې د افغان کارګرانو د تخصص او کاري ظرفیت لوړېدل؛
8. په هېواد کې له کاني او خامو توکو ګټه اخیستنه.

## په افغانستان کې د ځانګړو اقتصادي زونونو د جوړېدو موخه

ځانګړي اقتصادي زونونه هغه سیمې دي چې هلته د کسب، کار او تجارت قوانین د هېواد له نورو سیمو سره توپیر لري. دغه زونونه د هېواد دننه د تجارتي کچې، کارموندنې، پانګونې او بوختیاوو د زیاتوالي او اغېزمن مدیریت په موخه جوړېږي. په ځانګړې اقتصادي سیمه کې د کسب

او کارونو د رامنځته کولو د هڅونې په موخه مالي سیاستونه تعریفېږي. په دغو سیاستونو کې معمولاً پانګونه، مالیات، تجارت، سهمیه‌بندي، کاري او ګمرکي مقررات شاملېږي. پر دې سربېره شرکتونه ښايي په يوه ځانګړې اقتصادي زون کې کم مالیات ورکړي. په کوربه هېواد کې ځانګړي اقتصادي زونونه ښايي د بهرنۍ مستقیمې پانګونې د جلبولو په موخه جوړ شي. يو شرکت په ځانګړي اقتصادي زون کې دا ګټې ترلاسه کوي چې په ټيټه بيه په نړيواله کچه د سيالۍ په موخه توکي توليد او تجارت وکړي. لاندې د اقتصادي زونونو د رامنځته کېدو د ځينو مهمو موخو يادونه کوو:

### 1. کارمونده:

د دولت يوه مهمه دنده او موخه خلکو ته د حلال رزق موندلو لپاره لارې چارې اسانه کول دي او د کار توليد او کارموندنه ده. نو د افغانستان اسلامي امارت د همدې موخې لپاره شپه او ورځ هڅه کوي، ترڅو له يوې خوا خلکو ته د کار زمينه مساعده شي او له بلې خوا د هېواد اقتصاد پر پښو ودرېږي او د بهرنيو مرستو له تراو خپلواک شي. ځانګړي اقتصادي زونونه د کار د توليد لپاره د خورا اغېزمن ميکانيزم په توګه پېژندل کيږي.

### 2. د صادراتو وده:

د ځانګړو اقتصادي زونونو د رامنځته کېدو بله اساسي موخه د صادراتو په پراختيا کې مرسته ده. البته يوازې د صادراتو د ودې د چټکتيا نه، بلکې د صادراتو تنوع په ځانګړې توګه د افغانستان لپاره چې اوسمهال د لومړنيو توليداتو پر صادراتو متکي دی. لکه څنګه چې پوهېږو چې د افغانستان اوسني صادرات ډېر کم دي او د ادايني پر تعادل يې منفي اغېز کړی دی نو زياتوالي ته اړتيا لري. ځانګړي اقتصادي زونونه د هېواد د صادراتو د زياتولو لپاره اغېزمنه لار ده. دليل يې دا دی چې مختلفې مالياتي انګېزې پکې شاملېږي چې زموږ صادرات لوړې کچې ته رسولی شي. همدارنګه د ادايني پر تعادل پر مثبت اغېز کوي. دا صادرات به هېواد ته ډېر عايدات او بهرنۍ پيسې راجلب کړي او هم به زموږ له ګاونډيو هېوادونو سره د ښو سوداګريزو اړيکو جوړولو لپاره قوي پلټفورم رامنځته کړي. همدارنګه په هېواد کې ښه کاري فرصتونه هم چمتو کولی شي.

### 3. بهرنۍ مستقيمه پانګونه:

افغانستان په داسې يوه ځانګړې موقعيت کې دی، چې د نړۍ په کچه داسې غوره عملي پاليسي وړاندېز کولی شي چې د پانګونې د منفي اقليم د ځينو اړخونو د جبران لپاره کارول کېدای شي. مثلاً، د فليپين ځانګړي اقتصاد په 1997 کې د بهرنۍ مستقيمې پانګونې 30% برخه درلوده، په 2005 کال کې يې تر 85% څخه ډېره کړه. ښايي په دغه حقيقت پورې اړوند وي چې په چين کې ځانګړي اقتصادي زونونه د مجموعي بهرنۍ مستقيمې پانګونې 80% برخه جوړوي. که افغانستان حتی وکولی شي دغو لاسته راوړنو ته ورنږدې شي، د ملي اقتصاد لپاره خورا لوی محرک جوړوي او د امېد، سوکالۍ او امنيت يو هېواد جوړوي.

### 4. صنعتي پرمختګ او د ټيکنالوژۍ لېږد:

د ځانګړو اقتصادي زونونو معرفي کول به د صادراتي صنعتونو په تنوع کې لوی رول ولوبوي او د محصول د مهارتي محتوا په لوړولو کې مرسته کوي. په هر ځانګړي اقتصادي زون کې پر بشره ټيکنالوژۍ بنا شوي صنايعو مجموعه د اقتصادي او ټيکنالوژيکو هيلو په توګه عمل کوي او پر نړيوال ډګر کې به رقابت وکړي. دوی د سيمه‌ييز او د افغانستان پر شاوخوا د ودې په حال کې اقتصاد د دروازې په توګه هم عمل کوي.

### 5. د بوديجې اغيزې:

د ځانګړي اقتصادي زون پراختيا د افغانستان د دولت لپاره څوګوني عايداتي اغېزې درلودلی شي:
اصلي عوايد د شخصي عايداتو ماليې او د وارداتي محصولاتو او لګښتونو څخه عايد چې د افغانستان په کورني ګمرک کې پلورل کيږي، وړاندېز کوي. پردې سربېره له اقتصادي حوزې څخه بهر د سوداګرۍ لپاره د شرکتونو پر عايداتو ماليه شتون لري. تر ټولو مهمه ځانګړنه د افغانستان د حکومت وړتيا ده چې په اغېزمنه توګه يې وڅاري او راټول يې کړي. همدارنګه عوايد به د خصوصي اقتصادي زون له فيسونو او د خدماتو د لګښتونو، د ځمکې او ودانيو له کرايې څخه ترلاسه کېږي.

### 6. د انساني سرچينو وده:

د دولت يو مهم لومړيتوب د بشري سرچينو وده ده. پانګونه د اقتصادي ودې يو اساسي عامل ګڼل کېږي، خو پانګونه په تاسيساتو، تجهيزاتو، د طبيعي سرچينو پراختيا او نورو کې يوازې مادي لګښتونه نه دي، بلکې انساني پانګونه، د ښوونې او روزنې په برخه څېړنه او پراختيا او کاري ځواک روزل هم پکې شامل دي. ډېری اقتصادپوهان پر دې باور دي چې د بشري سرچينو په برخه کې د پانګونې کمښت د ودې په حال کې هېوادونو د اقتصادي ودې د ټيټوالي اصلي عامل دی. ځانګړي اقتصادي زونونه د کاري ځواک د ارتقا او د مهارتونو د ودې په برخه کې مثبتې اغيزې لري. ځانګړي اقتصادي زونونه يو داسې چاپيريال رامنځته کوي چې د زون دننه شرکتونه هڅوي ترڅو د توليد په وده او د بشري سرچينو په پراختيا کې پانګونه وکړي. همدارنګه نورې موخې او ګټې لري چې د موضوع د اوږدوالی له امله يې دلته له يادولو ډډه کوو.

### پايله

په تېرو شلو کلونو کې د افغانستان اقتصاد يو کاذب اقتصاد و او د بهرنيو مرستو له بنديدو سره يې ربښې وچېدې؛ د افغانستان اسلامي امارت د هېواد د اقتصادي ودې او غوړېدا لپاره کوټلي ګامونه اخيستي او شپه او ورځ نه ستړې کېدونکې هڅې کوي، ترڅو د هېواد اقتصاد د بهرنيو مرستو له اتکا څخه پر خپلو پښو ودروي او د خپلو سرشارو طبيعي زېرمو او بکرو کانونو په رااېستلو يې ربښې خروبې کړي. په همدې موخه د افغانستان اسلامي امارت اقتصادي معاونيت او اقتصادي کميسيون په دې وروستيو کې خپل ټول پام د هېواد اقتصادي ودې ته رااړولی دی او د قوش‌تيپې کانال او د افغانستان په نهه ولايتونو کې يې د نهو اقتصادي زونونو د جوړېدو په ګډون ګڼې اقتصادي پروژې پرانيستې او دغه مزل ته دوام ورکوي.

# اهمیت اقتصادی استخراج نفتِ قشقری در شمال کشور

صنعت نفت از بزرگ‌ترین و تاثیرگذارترین صنایع در جهان محسوب می‌شود. نفت همچنان منبع مهم تامین انرژی در جهان به شمار می‌رود. با توجه به اهمیت نفت، این کالای با ارزش حتا در تعیین میزان قدرت منطقه‌ای و جهانی کشورها نقش عمده را بازی می‌کند. به همین دلیل نفت، افزون بر رونق اقتصادی در سیاست خارجی کشورها تاثیرگذار می‌باشد. کشورهایی که نفت افزون بر رونق اقتصادی در سیاست خارجی آن‌ها نقش بازی می‌کند، می‌توان از روسیه و کشورهای خلیج یادآور شد.

برخی‌ها تصور می‌کنند که نفت تنها در استفاده از وسایط، طیاره و کشتی‌ها کاربرد دارد، در حالی که برعلاوه‌ای این‌ها کاربرد نفت در ساخت بسیاری از اشیای قابل استفاده در زندگی کنونی بشر از لباس گرفته تا وسایل الکترونیک، موبایل، کمپیوتر، آشیای زینتی و... رول مهم دارد. به همین خاطر نفت به نام «طلا سیاه» معروف است که به عنوان کالای استراتیژیک در رونق اقتصادی کشورها نقش مهم دارد.

## ظرفیت نفتی افغانستان و اهمیت اقتصادی آن

طبق آخرین آمار پیرامون نفت و گاز افغانستان، در حدود 1.8 میلیارد بشکه نفت خام و 700 الی 3 هزار میلیارد متر مکعب گاز طبیعی و 562 میلیون بشکه گاز مایع در افغانستان وجود دارد. همچنین افغانستان توانایی استخراج روزانه ۳۰۰ هزار بشکه نفت خام را دارا است که درآمدی معادل سالانه 9 الی10 میلیارد دالر برای افغانستان ایجاد می‌کند.[1] پیشبینی‌های اولیه نشان می‌دهند که تنها در سه حوزه نفت خیز شمال کشور بیش از یک میلیارد متر مکعب گاز و بیش از 10 میلیون تُن نفت وجود دارد.[2] ارقام فوق نشان می‌دهد که به این میزان عواید تنها از منابع طبیعی افغانستان در صورت استخراج تمام نیازهای داخلی کشور و مردم را برای سالیان متمادی برآورده می‌سازد.

در سال‌های اخیر تحقیقاتی که توسط امریکایی‌ها انجام شده نشان می‌دهد که در افغانستان بیشتر از 100 حوزه‌ی نفت و گاز وجود دارد. بیشترین تحقیقات انجام شده در پنج حوزه‌ی نفت خیز صورت گرفته است که دو حوزه‌ای آن در شمال یک حوزه در هلمند، یک حوزه در هرات و یک حوزه‌ای دیگر در کتواز ولایت پکتیکا موقعیت دارد.

دولت پیشین افغانستان در سال 1384 با بخش زمین شناسی اداره‌ای فضایی امریکا -ناسا- قراردادی بررسی معادن زیر زمینی افغانستان را امضاء کرد. بر اساس تحقیقات ژئوفیزیکی هوایی منابع زیر زمینی نفت در شمال افغانستان، دوازده تا پانزده برابر و منابع گاز، پنج تا شش برابر بیشتر از برآوردهای قبلی است.[3] همچنان بر اساس سروی زمین شناسی امریکا (USDS) در سال 2011 افغانستان حدود 1.9 میلیارد بشکه نفت خام کشف ناشده دارد.[4]

## میزان ذخایر نفت و گاز شمال کشور

بر اساس مطالعات انجام شده مجموع ذخایر نفت و گاز شمال کشور اعم از ذخایر کشف شده و کشف ناشده قابل استحصال و بهره‌برداری قرار ذیل می‌باشد :

- مجموع ذخایر نفت کشف شده 80 میلیون بشکه؛
- مجموع ذخایر نفت قابل استحصال 300 میلیون بشکه همراه با 145میلیون بشکه نفت سنگین؛
- مجموع ذخایر گاز کشف شده حدود 5 تریلیون فوت مکعب؛
- و مجموع ذخایر گاز قابل استحصال حدود 6/9 تریلیون فوت مکعب می‌باشد.[5]

## اهمیت استخراج نفت قشقری و دستآورد اقتصادی

ذخایر نفتی قشقری برای نخستین بار در سال 1976م که در دوازده کیلو متری جنوب و جنوب شرقی ولایت سرپل در شمال کشور موقعیت دارد کشف گردید.

ساحه‌ی نفت خیز قشقری حدود 1159 متر از سطح دریا ارتفاع دارد و مساحت آن حدود 4500 کیلومتر مربع می‌باشد. در ساحه قشقری در مجموع ۱۰ چاه کشف شده حفر گردیده است که از آن جمله چاه‌های شماره 1، 2 ، 3، 4 ، 8، 9 و 10 را شامل می‌شود.[6]

یکی از دستآوردهای مهم در عرصه‌ی اقتصادی استخراج منابع طبیعی افغانستان از جمله نفت می‌باشد. به تاریخ 19 حمل سال 1401، ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء در سفری به ولایت سرپل، کار استخراج چاه‌های نفت قشقری در این ولایت را افتتاح کرد. معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء حین افتتاح این پروژه‌ای مهم گفت: استخراج نفت قشقری گام بزرگی در راستای خودکفایی اقتصادی کشور می‌باشد. ملا عبدالغنی برادر آخند همچنان افزود: درآمدی که از این رهگذر به دست می‌آید برای بازسازی و نوسازی بخش‌های گونه‌گون کشور مصرف خواهد شد.

شیخ شهاب الدین دلاور سرپرست وزارت معادن و پترولیم هنگام افتتاح چاه‌های نفتی قشقری گفت: قرار است روزانه تا 200 تُن نفت به هزینه 160 هزار دالر از این چاه‌ها نفت استخراج شود.[7] چیزی معادل روزانه 9 تا 14 میلیون افغانی می‌باشد. وزیر معادن و پترولیم همچنان تاکید کرد: این پروژه با هیچ شرکتی قرارداد نشده است، بلکه از سوی امارت اسلامی پس از استخراج به گونه‌ی آزاد در بازار به فروش خواهد رسید. وی در قسمت چگونگی مصرف عواید این پروژه بیان داشت: عواید تمام معادن به بانک مرکزی می‌رود و از آن‌جا به تمام ولایات توزیع می‌گردد. در این پروژه حق اولویت از مردم ولایت سرپل خواهد بود.

هرچند استخراج چاه‌های نفتی قشقری در سال 1391 توسط اداره‌ی قبلی به «شرکت ملی نفت چین (CNPCI)» طی قراردادی سپرده شده بود، ولی به دلیل ناامنی، کم‌کاری[8] و فساد در قراردادها که یکی از مشکلات اساسی سد راه سرمایه‌گذاری در اداره‌ای قبلی به شمار می‌رفت، کار عملی



آن آغاز نگردید.

همان گونه که نفت به عنوان یکی از کالاهای مهم در پیشرفت اقتصادی کشورها نقش دارد، استخراج منابع طبیعی افغانستان، در این میان استخراج عملی نفتِ چاه‌های قشقری می‌تواند آغازگر حرکت به سوی پیشرفت و رونق اقتصادی کشور و مردم رنج‌دیده‌ای افغانستان باشد. پس از افتتاح عملی «کانال قوش‌تیپه» این دومین پروژه‌ای بزرگ اقتصادی در شمال کشور است که از آغاز سال جاری، توسط ملا عبدالغنی برادر آخند معاون نخست ریاست‌الوزراء افتتاح می گردد.

## منابع:


1. ویب سایت مشعل (Mashal.org) بخش مقالات علمی و تحقیقی:
%AY%AE%DA%DA%B•%http://mashal.org/blog/%DA
-AA%AA-%D9%DA%A1%D9%A7%D9%-B1%AC%DA%DB
A%BA%DA%DA%A1%D9%AY%DA%-B٣%DA%AY%DA%AF%DA%
/A7%D9%AY%AA%DA%DA%B٣%DA%A7%D9%Y

2. ویب سایت آژانس خبری پژواک، صفحه‌ی ویژه‌ای تحقیق پیرامون معادن افغانستان:
https://mines.pajhwok.com/dr/
-AA%AA-%D9%DA%A1%D9%A7%content/%D9
A%BA%DA%DA%A1%D9%AY%DA%-B٣%DA%AY%DA%AF%DA%
A7%D9%AY%AA%DA%DA%B٣%DA%A7%D9%Y

3. ویب سایت بی‌بی‌سی فارسی: /https://www.bbc.com
ram-afghan-_۰۸۰۵۲۸/۰۵/۲۰۰۸/persian/afghanistan/story
mine

4. ویب سایت انگلیسی .INSIDER: https://www
businessinsider.com/this-energy-company-hopes-to-find-
r=US&IR=T&IR=T?۹-۲۰۱۲-oil-in-afghanistan

5. ویب سایت آژانس خبری پژواک، صفحه‌ی ویژه تحقیق پیرامون معادن افغانستان:
https://mines.pajhwok.com/dr/
-AY%D9%B٢%DA%AA%AD%D9%content/%DA
AC-%DB%AY%DA%AY%D9%
B%DA%A1%D9%AY%AC-%DA%AA%DB%DA%A1%D9%A7%%D9
A7%D9%AY%AA%DA%DA%B٣%DA%A7%D9%AY%A%DA

6. ویب سایت صدای آلمان تحقیقی ویژه‌ای نفت و گاز:
AA-%DA%A1%D9%A7%https://www.dw.com/fa-af/%D9
-B٢%DA%AY%DA%AF%DA%-AA%%D9
-A٤%D9%AY%DA%A٥%D9%B٤%DA%
AC-%DB%A٥%D9%-B1%AF%DA%DA%A٢%D9%A7%DA%
۱٦۰٤٦٩٤۰-AF/a%DA%B٢%DA%B1%DA%AY%%DA

7. صفحه تویتر آژانس خبری باختر «BakhtarNA@» مؤرخ ۲۰۲۲,۰٤,۰۸م.

8. گزارشی ویب از سایت بی‌بی‌سی فارسی پیرامون افتتاح استخراج چاه‌های نفت قشقری: https://www.bbc.com/persian/iran-
٦١۰٤۰۲۲۲

# د غوریان د اوسپنې کان؛

## تر خاورو لاندې د هېواد یوه بله خزانه



کانونه او طبیعي سرچینې د یوه هېواد اقتصادي ځواک او ثبات تضمینوي. له یوې خوا په داخل کې د هېوادوالو ورځنۍ ژوند د هوساینې په لوري بیايي او له بل پلوه په بهر کې له نورو هېوادونو سره د اړیکو په پیاوړتیا کې رغنده رول لوبوي. افغانستان چې د آسیا زړه بلل کېږي، ستراتیژیک موقعیت یې د سیمې د هېوادونو په اقتصادي وده او پراختیا کې د سوداګریز پول په څېر ارزښت لري. که څه هم زموږ هېواد په وچه کې پروت دی او سمندر ته لاره نه لري، خو پربمانه طبیعي سرچینې یې کولی شي، چې په اقتصادي او سوداګریز اړخ کې دغه تشه ډکه کړي. په افغانستان کې د اوسپنې، مسو، لیتیمو او یورانیمو په څېر خورا زیاتې طبیعي سرچینې او قیمتي ډبرې پرتې دي. که په سمه توګه راوایستل شي او د هېواد او ولس په اقتصادي بیارغونه کې ولګول شي، نو کولی شي چې هېواد پر ځان بسیا او له بهرنیو مرستو خلاص کړي. په دغو طبیعي سرچینو کې یوه هم د افغانستان د اوسپنې کانونه دي، چې په کشف او استخراج سره به یې د هېواد لویه اقتصادي برخه په پښو ودرول شي.

### تاریخي مخینه:

شاوخوا نیمه پېړۍ وړاندې یعنې د (1955-1980م) کلونو پر مهال افغان متخصصینو د روسیې او ځینو نورو هېوادونو د متخصصینو په مرسته د افغانستان تقریباً ټوله جیولوجي سروې کړه. په دغې سروې کې د اوسپنې په ګډون د هېواد بېلابېلې طبیعي سرچینې کشف شوې. «فغانستان د سیمې د هېوادونو په کچه د اوسپنې پربمانه ذخیرې لري، چې تقریباً په 100 بېلابېلو سیمو کې ثبت شوې دي. د دغو کانونو اندازه په مجموعي ډول له یو بیلیون ټنو څخه ډېره ده، چې سلګونه میلیارد ډالره ارزښت لري.»[1] اوسپنه یې د لوړ کیفیت او معیار له مخې د آسیا په کچه شهرت لري، چې تر ټولو لوی او مهم کانونه یې د حاجي ګک، سیاه دره، خاکریز، سیاه جر ... او غوریان ولسوالۍ کانونه دي.

### سروې شوې سیمه:

د هرات په غوریان ولسوالۍ کې سروې شوې سیمې د یادې ولسوالۍ شمال-غربي، غربي او جنوب-غربي برخې دي، چې کاري ټیم د دغې ولسوالۍ تقریباً (940,66) کیلو متره مربع اوسپنه لرونکې سیمه سروې کړې ده. دا سیمه په څلورو بلاکونو ویشل شوې؛ چې لومړی بلاک یې «چاه آباد» دی او دا بلاک د ایران او افغانستان له مرزي سیمې څخه پیل کېږي او تر چشمه‌سوخته سیمې پورې دوام کوي. دویم بلاک یې «چشمه دم» دی، چې له چشمه‌سوخته څخه پیل کېږي او تر چشمه‌دم پورې غځېدلی دی. درېیم بلاک یې «چاه ریګ» دی، چې د چاه ریګ، چاه خیمه او تیرکش سیمې پکې شاملې دي. څلورم بلاک یې «چاه ګز» دی، چې د چاه ګز، چاه دني

او ایلاغه سیمې پکې راځي. دغه سیمه تر ډېره هوارې دښتې دي، چې د رسوباتو په واسطه پوښل شوې دي. ځینې لوړې برخې یې بیا سختې او ډبرینې دي، چې د ارزښت وړ بېلابېلې ډبرې لري، لکه: رسوبي (دلومیتونه، د چونې ډبرې، ریګي ډبرې، د مرمرو او ګچ ډبرې)، مګماتیکې ډبرې (ګرانیت، دیوریت، ریولیت، قلوي او ولکانیکي ډبرې) او متحوله ډبرې (شیستونه، ګنایسونه، امفیبولیتونه او کوارزیټونه).

## ټولنیز او مواصلاتي اړخ:

د غوریان ولسوالۍ دغه سیمه له ټولنیز اړخه زیات نفوس نه لري او ډېرى وګړي یې غریب دي. د ژوند کولو کچه یې ټیټه ده او د ورځنۍ عاید د ترلاسه کولو لپاره ډېرى وخت بهرنیو هېوادونو او په ځانګړې توګه ایران ته ځي. د چاپېریال ساتنې له مخې پراخه او وچه سیمه ده. ګټور مواد پکې په یوه ځای نه موندل کېږي، بلکې په بېلابېلو برخو کې یې خواره شوي دي. دا سیمه دایمي بهېدونکې اوبه نه لري، خو کلي او موسمي بهېدونکې اوبه پکې ډېرې کمې پیداکېږي. ډېرى ګټور مواد له کلیوالي سیمو لېرې په دښتو کې دي، چې چاپېریال ساتنې ته کوم جدي ګواښ نه پېښوي؛ خو کم شمېر د اوسېدنې سیمې یې د سروې په ساحه کې راځي، چې د کانونو د کشف او استخراج پرمهال یې چاپېریال ته د زیان اوښتو امکان شته دی. په دې سیمه کې د مواصلاتي لارو اوسنۍ امکانات د پام وړ دي او دغې سیمې ته پر خامو سړکونو سربېره د اوسپنې پټلۍ هم غځېدلې ده. د هرات د اوسپنې پټلۍ د شمال له لوري د دغې سیمې له چشمه‌سوخته څخه نیولې بیا له موسی آباد او چاه اباد سیمو څخه تېرېږي او د ایران تر پولې پورې رسېږي. د جنوب له لوري بیا له چاه ګز، چاه نی، تیرکش، چاه ریګ او چاه خیمه سیمې څخه تېرېږي، چې دلته هم له ایران سره وصل کېږي. په ټوله کې دا مواصلاتي اسانتیا پخپله د غوریان د اوسپنې کان لپاره یو مثبت او ګټور ټکی بلل کېږي.

## ګټې:

د غوریان د اوسپنې کان 1.8 میلیارده ټنه اوسپنه لري، چې را ایستل یې د افغانستان په اقتصادي بیارغونه کې بنسټیز رول لوبوي [2]. د دې ترڅنګ زیات شمېر پانګوالو ته د پانګونې زمینه برابروي، ترڅو خپل هېواد او هېوادوالو ته په دې برخه کې د خدمت جوګه شي. په زرګونو وزګار هېوادوال پکې په بېلابېلو برخو کې په دندو ګومارل کېږي، چې د بې‌کارۍ د راټیټولو په برخه کې مثبت اغېز لري. پردې سربېره د دولت خزانې ته میلیونونه ډالر کلنی عاید ورکولی شي، چې په دې سره به د هېواد د اقتصاد یوه بله ستنه هم په پښو ودرېږي.

## پایله:

د اسلامي امارت چارواکي په ځانګړې توګه اقتصادي کمېسیون نه غواړي، چې هېواد یې دې تل د بهرنیانو په مرستو متکي وي، بلکې هڅه کوي چې د خپلو داخلي زیربناوو په مرسته یې پر خپل پښو ودرول کېږي. په همدې توګه یې په هېواد کې د ځینو مهمو پروژو په بیا پرانیستلو او پیلولو کې د پام وړ ګامونه اخیستي دي. دا ځل هم د ریاست الوزراء د اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ دغه اقتصادي کمېسیون د یو لړ غونډو په پایله کې د 2022م کال د اپریل په 9مه د کانونو او پټرولیم وزارت ته اجازه ورکړه، ترڅو د غوریان د اوسپنې کان د کشف او استخراج په موخه په قرارداد ورکړي. دا په هېواد کې یوه بله لویه اقتصادي لاسته راوړنه بلل کېږي، چې په استخراج سره به یې په هېواد کې هم د فقر او بې کارۍ کچه راټیټه شي او هم به هېواد ورو ورو د اقتصادي ثبات په لوري لاړ شي.


**مأخذونه:**

1- افغان کلکین پاڼه:

٪B۹٪D۸٪۸۵٪https://afghankelkin.com/٪D۹

2- د کانونو او پټرولیم وزارت سایټ:

AA٪D٪https://momp.gov.af/index.php/dr/٪D۸
-۸۷٪D۹٪۸٦٪AE٪DA٪۸C٪D۸٪DB٪B۱٪D۸٪A۷٪۸
۸C٪AC٪DB٪۸C-٪D۸٪DB٪۸۸٪D۹٪B۱٪D۸٪B۳٪D۸٪
۸C٪AC٪DB٪D۸٪۸۸٪D۹٪۸٤٪D۹٪۸۸٪٪D۹




# د قوش تیپه کانال؛

## د افغانانو یوه هیله چې پوره کېږي

واک ته د اسلامي امارت له رسېدو وروسته د یوه هوسا، ښېرازه، سوکاله او پر ځان بسیا افغانستان لپاره د خلکو هیلې زیاتې شوې. د اسلامي امارت له لوري د اقتصاد-محوره سیاست اعلان، د فساد د ریښو شنډولو، د عوایدو زیاتېدو، د معادنو را ایستلو – که څه تر اوسه په لږ کچه دي- او د افغانستان د طبعي سرچینو را ایستلو لپاره د بهرنیو پانګوالو لېوالتیا وښوده چې د دغو هیلو د پوره کېدو خوا ته روان یو. په وروستیو څلورو لسیزو کې د بهرنیانو مستقیمي او نا مستقیمي مداخلې د دې سبب شوې چې د راتلونکې لپاره با ثباته کار ونه شي او د افغانانو دا هیله چې افغانستان به له نړۍ سره سیال شي، رژېدلې وه. اوس د اسلامي امارت په راتګ، یو نوی فصل پرانیستل شوی او د خلکو هیلې تازه شوې دي.

د افغانستان د پر ځان بسیا کولو لپاره؛ اسلامي امارت په هره برخه کې اوږدمهاله او لنډمهاله پلانونه لري. دا پلانونه به عملي کېږي، افغانستان به پر ځان بسیا او په خپلو پښو درېږي او د افغانانو هیلې به پوره کېږي. د یوه پر ځان بسیا افغانستان لپاره د اسلامي امارت د ژمنتیا او هڅو د یوې برخې په توګه د قوش تیپې کانال جوړولو پروژه ده چې د روان کال د حمل میاشتې په لسمه نېټه د رییس الوزراء د اقتصادي مرستیال، ملا عبدالغني برادر اخوند په هڅو او مشرۍ پرانیستل شوه.

قوش تیپه کانال د هېواد په کچه یوه مهمه او بنسټیزه پروژه ده چې په پلي کېدو یې د هېواد کرنیز تولیدات زیاتېږي، شاړې ځمکې خړوبېږي، د هېواد اوبه تنظیمېږي او ګڼ شمېر وطنوالو ته په مستقیم او نامستقیم ډول د کار زمینه برابرېږي. دا چې د افغانستان د خلکو ژوند او اقتصاد پر کرنه ولاړ دی، د دغه کانال جوړول به د خلکو د ژوند په ښه کولو، د بې وزلۍ کمولو، د خلکو هوساینې، امنیت، سوداګرۍ او نورو برخو کې د پام وړ رول ولوبوي. دا د سیمې په کچه یو لوی کانال دی




چې د افغانستان په شمال کې به کابو 3 میلیونه جریبه ځمکه خړوبه کړي؛ دا د ټول افغانستان د کرنې وړ ځمکې 33 سلنه جوړوي. د دغه کانال په جوړېدو سره به د افغانستان د خلکو یوه لویه هیله پوره شي؛ د وطن ځوانان به پکې په کار بوخت شي، له قاچاقي او سختو لارو به یې بهر ته د تلو مخه ونیول شي او د خپل وطن د جوړولو لپاره به کار وکړي؛ د وخت په تېرېدو به د دغه کانال په واسطه خړوبو شویو ځمکو د کرنیزو تولیداتو د پروسس لپاره فابریکې جوړې شي او تولیدات به یې بهر ته هم صادر شي؛ افغانستان به د غنمو او نورو کرنیزو تولیداتو د تولید له اړخه پر ځان بسیا شي او په لویه کچه به یې تولیدات بهر ته صادر شي.

قوش تیپه کانال له آمو سیند څخه د بلخ ولایت د کلداري ولسوالۍ اړوند سیمه کې سرچینه اخلي؛ د مزار شریف له حیرتانو او د دولت اباد له نیمه کرنیزو ځمکو تېرېږي، د جوزجان آقچې ولسوالۍ او د فاریاب د اندخوی ولسوالۍ دښتو ته رسېږي. دا کانال به کرنیزې ځمکې اوبه کوي د تر لاس لاندې ځمکې اوبه به غني کوي.

د دغه کانال د ټول 285 کیلو متره اوږدوالي د جوړولو کار په درېیو فازونو وېشل شوی:

• لومړی فاز یې 108 کیلو متره دی چې له آمو سینده پیل او د بلخ ولایت تر دولت اباد ولسوالۍ رسېږي چې 43 کیلو متره برخه یې تر کار لاندې ده؛
• دویم فاز یې 177 کیلو متره اوږدوالی لري چې د بلخ ولایت له دولت آباد ولسوالۍ پیل، د جوزجان له اقچې ولسوالۍ تېرېږي او د فاریاب په اندخوی ولسوالۍ کې پای ته رسېږي؛
• او په درېیم فاز کې یې د فرعي کانالونو وېش شاملېږي.

د قوش تیپې کانال اوسط عرض100 متره دی، د کف/بېخ عرض یې 85 متره او د ډیزاین له مخې په کانال کې د اوبو لوړوالی 6.5 متره دی.

د قوش تیپې کانال د پروژې په بشپړېدو سره به افغانستان د غنمو، مېوو او نورو کرنیزو محصولاتو د تولید له اړخه غني او پر ځان بسیا شي او همداراز به د هېواد پر اقتصاد مثبته اغېزه وکړي.




@FDPM_AFG

@FDPMAFG

www.fdpm.gov.af

@FDPM_AFG